
پولیسي ناول
مرګ په څو دی؟!
نصرت ارمان

مازیګرکتاب پلورځی

# کتاب پېژندنه:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | مرګ په څو دی!؟ (پولیسي ناول) |
| لیکوال | : | نصرت ارمان |
| ډیزاین | : | ثناءالله ځواب |
| خپرندوی | : | مازیګر کتاب پلورځی |
| چاپ کال | : | ۱۴۰۳ لمریز |
| د خپرونو لړ | : | (۸۲) |
| د چاپ شمېر | : | ۲۰۰۰ ټوکه |


حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

ادرس: مازیګر کتاب پلورځی/مینه یار مارکېټ/کوټه سنګي/کابل
۰۷۸۲۴۲۴۵۶۶

Scanned with CamScanner

## ډالۍ!

نالیدلي ملگري (ولي احمدزي) ته چې ویل یې:

د دې کتاب تر بشپړولو د ژوند د اړتیاو پوره کولو ته زړه مه خوره، هغه بوج دې زه پر غاړه اخلم!

**نصرت ارمان**

Scanned with CamScanner

## (۱)

په اته ویشت کلنۍ کې مې مور سره له دې چې زه د ژوند په هر امتحان کې ناکام وم، هڅه شروع کړه چې ښځه راته وکړي، خو د خلکو لومړۍ پوښتنه دا وه چې زوی مو څه کار کوي؟ او څومره زده کړې لري؟

او ما دا دواړه نعمتونه نه لرل، ښوونځی مې نیمايي کې پرېښی و، یو کوڅه ډب انسان وم، خوب، نشه، موسیقي اورېدل او په سړکونو او کوڅو کې په قدم وهلو مې ژوند خلاصېدو ته لنډاوه... زما پلار هغه وخت چې مور ماشومان وو، یوه ترافیکي پېښه کې مړ شوی و، مور مې چې د هغه له مرگه وروسته ډېر کلونه په تنها ځان زموږ پالنه او ساتنه وکړه، د هډوکو سرطان شوه، د درملنې لپاره یې پیسې نه وې، رنځېده خو ویل به یې ښه یم، ما او کشر ورور مې له ډېرو منډو وروسته د هغې د درملنې د پیسو لپاره غلا ته لاس واچوه، خو د مور مې پوره راغلې وه، خوارې له سخت ژوند وروسته چې یوه شیبه هم دمه نه شوه، له ژوند سره مخه ښه وکړه!



Scanned with CamScanner

د مور د مرگ په دویمه میاشت مې چې وړور غلا کې ونیول شو، نو ما له غلا نه توبه وویسته، ځکه نه مې غوښتل د خدای ج له وروستي نعمت نه هم بې برخې شم چې ازادي وه!

د پسرلي په یوه شپه له ملگرو سره تر ناوخته مجلس وروسته، ځنگېدلی کور ته لاړم، کور په خاموشۍ کې ډوب و، خو کله چې کوټې ته ننوتم، د سیگرټ د لوگي تازه بوی مې حس کړ، حیران شوم چې څوک راغلی؟ په سیگرټ دانۍ کې پرتو فلټرونو ته مې پام شو، جاپاني سیگرټ ما نه څکول، نو بې له شکه چې کوم څوک راننوتی و، وارخطا او نشه رانه په الوتو شوه، خوا و شا مې سترگې وگرځولې، کټ کې ایښې شنې بکسې ته مې پام شو، چې مخکې مې نه وه لیدلې، ژر مې راجیگه او خلاصه کړه، د پیسو د بنډلونو په لیدو مې داسې وگڼله چې گنې نشه کې خیال گورم، یو لیک هم ورسره ایښی و، هغه مې راواخېست او په لوستو یې شوم!

(زه روږدی شوی وم، خپل حال مې هسې هم نور نه شو بدلولای، خو ستا د حال بدلېدو لپاره مې ژوند خرڅ کړ، هیله لرم ناهیلی او اندېښنې له ځان نه وشړې، په دې پیسو واده وکړې او پاتې ژوند خوشاله تېر کړې... ما وبښه... وړور دې... هادي)...

له ښو مې څمکه وتښتېده، عجیبه وه، څنگه یې ژوند خرڅ کړی؟ په چا یې خرڅ کړی؟ هغه خو بندي و؟ کله راخلاص شوی؟ ولې بې له دې چې ما سره وگوري بېرته له کوره وتلی؟... په سترگو مې تیاره شوه، سر مې وگرځېده او وغورځېدم...

د لمر وړانگې په کړکۍ راننوتې وې چې سترگې مې وغوړېدې، دا چې څه شوي وو؟ یوه شېبه کې ذهن ته راغلل، ژر پاڅېدم، له بکسې نه مې د پیسو

دواړه بنډلونه راوویستل، هر څه راته خوب ښکارېده، یو داسې خوب چې تسلسل یې نه و مات شوی او معلومه نه وه چې پای به یې چېرته او څنګه وي؟
د یو بنډل په لومړي نوټ مې سرې کرښې ته پام شو، سترګو ته مې رانږدې کړ.
(سبا دولس بجې، د قومندانۍ مخ ته!).
پوی نه شوم له دې جملې نه مطلب څه دی؟ دا چا او څه شي ته لیکلې؟ له لږ فکر وروسته راته داسې ښکاره شوه چې خامخا د قومندانۍ مخ ته څه خبره شته، ساعت ته مې وکتل، دولس بجو ته یو ساعت پاتې و، کور نه مې منډه کړه، په سړک یوه رېکشه او ټیکسي هم نه وه، مجبور وم همداسې په منډه لاړ شم...
د قومندانۍ مخ ته د خلکو رش جوړ و، وړور پسې مې سترګې وګرځولې، ترور وم، دولس بجو ته یوازې څو دقیقې پاتې وې.
خلک مې له مخې ټېله کول او په ګڼه ګونه کې مخکې روان وم، لېرې مې یو کس ولید، هماغه راته ښکاره شو، د قومندانۍ دروازې ته روان و. وزرې مې نه لرلې چې په شېبو کې وررسېدلی وی او زما له پښو نه د تلو توان هم تللی و، ستونی مې وچ و، په سختۍ مې ورچغه کړه.
-هادي...!
هغه ودرېد، خپله و، یو خوا بل خوا یې ما پسې سر تاو کړ، لاس مې ورته جیګ کړ او چې څنګه یې راپام شو، د چاودنې درز د غوږونو پردې راوشلولې، له سترګو مې هر څه پناه او وغورځېدم... چې حال ته راغلم، شور و، چغې وې، وینې وې، لوګي وو، منډې وې او ما لکه د لېوني ننداره کوله...
په سختۍ راجیګ شوم، غوږونو کې مې لا هم د درز انګازې وې، سر مې چورلېده، سترګې مې پټې، پټې کېدې، اوسپنیزې کټارې ته په تکیه هغه ځای

ته چې ورور مې په کې لیدلی و، روان وم چې یو ګوته په ماشه پولیس رابانديې غبر کړ.

- تاو شه!...

ناهیلی راتاو شوم، هلته تګ ګټه هم نه لرله، اوښکې مې بهیدې... له ما ځان هېر و او دا چې په څنګه حالت کې وم؟ لیکل یې سخت دي...

د سترګو په وړاندې مې ورور ټوټې، ټوټې شو او له ځان سره یې لسګونه بې ګناه انسانان هم له ژونده خلاص کړل. زما د ژوند لپاره هغه څنګه داسې مرګ ته تیار شوی و؟ چا پیسې ورکړې؟ په چا یې ژوند خرڅ کړ؟ څه وخت له زندان نه راخلاص شو؟ ولې یې له ما سره د وروستي ځل لپاره و نه لیدل؟ او د پیسو د بنډل په لومړي نوټ د هغه د مرګ وخت او ځای چا لیکلی و؟...

دېوال ته تکیه کېناستم او بیا هغه ځای ته په ورکتو شوم چې په وروستي ځل مې په کې هادي لیدلی و. هلته لا هم نری لوګی و. کله چې ما لاس ورته جیګ کړ، غوښتل یې راتاو شي، خو هماغه شیبه کې...

د امبولانسونو د رانږدې کېدو غږ شو، خلکو لا هم یو خوا بل خوا منډې وهلې، پولیسو د پېښې له ځای نه رنګه پټۍ تاوولې چې عوام پوی شي، هلته د ورتګ اجازه نه شته!

له ما مخکې څو موټر ولاړ وو، د تور پرونر دروازه خلاصه شوه، یو کس ترې راکېوت، هماغسې کورتۍ یې اغوستې وه چې ما په کې هادي لیدلی و، لاسونه یې د پراشوټي کورتۍ په جېبونو ننویستي وو. هغه چې څو قدمه لاړ نو بېرته یې پرونر ته مخ واړو، د پرونر خلاصه دروازه بنده او روان شو، لږه شیبه مې ورپسې وکتل او بیا مې ترې راکېوتي کس پسې سترګې واړولې، د پېښې ځای ته د راټولو شویو خلکو اړخ ته روان و!



Scanned with CamScanner

شک راپیدا شو، داسې مې وانگیرله چې زما ورور هم له همدې موټر نه ښکته شوی دی... ژر جیگ شوم، دا کس هم لکه چې ځانمرگی و، ما یې باید مخه نیولې وی!

پخه خښته د دېوال ښخ ته پرته وه، هغه مې راواخېسته، ورمنډه مې کړه او په سر مې وواهه... ځای په ځای وغورځېد، خلک په منډه شول، پولیس ما ته گوته په ماشه شول، چې له ځایه و نه خوځم او لاسونه پورته کړم!...

ژر مې لاسونه پورته او په گونډو شوم، ډارېدم چې هغوی پر ما د بریدگر گومان و نه کړي او ومې نه ولي.

دوه پولیس زما خوا ته په کراره رالنډ شوو، یو بل غوښتل هغه کس ته نږدې شي چې ما پر سر وهلی و، خو ورچغه مې کړه: هغه ځانمرگی دی!

زما په خبره هغوی یوه شېبه حیران او بیا په منډو شول، نورو ولاړو پولیسو ته یې هم د تېښتې وویل چې ما ته یې ټوپکونه نیولي وو، ما هم منډه کړه...

د ورور پسې ژړلو او رایادولو اوس هېڅ گټه نه لرله، پر ځان مې لعنتونه ویل، دا هر څه زما لپاره او زما له لاسه شوي وو. که زه چرته یو سم، په کامیابه لار روان انسان وی، داسې به نه کېدل؛ خو هېڅ څوک له راتلونکي خبر نه دي چې څه به کېږي؟ د دې لپاره چې د ملامتۍ بار له خپل زړه او فکره سپک کړم، ما باید څه کړي وی؟ د ورور د غچ اخېستو قسمونه مې کول، ټول کار او کیسه په تور پرونر کې وه، هغې کې څوک وو؟ او څنگه به مې پیدا کول؟

په فکرونو، فکرونو کې کور ته ورسېدم، اول مې په هماغه بکسه او پیسو سترگې ولگېدې، کرکه مې ترې وشوه، له ما یې ورور اخېستی و. خو دې پیسو له ما سره مرسته کولای شوه چې د ورور غچ پرې واخلم او باید په همدې کار مې لگولې وی.

ښنه مې چې غورځېدو کې سخته ګرېدلې وه، وترله، مخ او سر مې ووينځل، له بکسې مې دومره پيسې راواخېستې چې تمانچه پرې وشي.
د تمانچې له اخېستو وروسته مې ځان په کوڅو، کوڅو کور ته ورساوه چې ورسره و نه نيول شم. ځکه هر ځای تالاشي وې، کوټې ته ننوتم، تياره وه، ګروپ مې روښانه کړ، غوښتل مې د ورور ليک راواخلم او يو ځل بيا يې ولولم چې همدا شېبه مې هلته په يوه نا اشنا څېره سترګې ولګېدې، زما د ورور ليک يې لاس کې نيولی و، د مرميو کڅوړه مې له لاسه وغورځېده.
- ستړی مه شې؛ ډېر انتظار مې درته وويست!
حيرانی او وېرې ووهلم، څوک و؟ څنګه راغلی و؟ دروازه خو هم بنده وه، ضرور د کور د شا په دېوال رااوښتی و.
- څوک يې؟ دننه څنګه راغلی يې؟
- کېنه، دمه شه، و به مې پېژنې!
ما په بېړه وهلې تمانچه پسې راوويسته، که څه هم پوهېدم چې تشه ده، خو هغه مې پرې ډارولی شو.
- درته وايم څوک يې؟ او چيشي ته راغلی يې؟
هېڅ و نه ډار شو، لکه کوربه چې وي، راپاڅېد، لاس يې په اوږه رازور کړ: د مېلمه هرکلی څوک داسې نه کوي، مننه چې نن دې د خلکو ژوند وژغوره!
نو ده زه له هغه ځای نه څارلی وم، کله چې ما ځانمرګی په سر وواهه؟
ژړغونی شوم: حوصله نه لرم، ژر ووايه چې څوک يې او څه شي ته راغلی يې؟
بېرته کټ کې کېناست: د دې لپاره راغلی يم تر څو پوی شم چې تا هغه ځانمرګی څنګه وپېژند؟



Scanned with CamScanner

هغه لکه چې د امنیت والا و، وېره راپیدا شوه هسې نه داسې څه راپسې وتړي چې زه ترې خبر هم نه یم.

- هغه یو تور پرونر نه راکېوت.

په زنگنو راتکیه شو: ته څنګه پوی شوې چې هغه ځانمرگی دی؟

هغه پېښه بیا رایاده شوه.

- د هغه کورتی زه شکمن کړم، ځکه ما مې ورور....

ژر مې خبره ونیوله، زړه نا زړه شوم چې د ورور د ځانمرگي کولو ورته ووایم که نه؟ خو هغه راغبر کړ: پوهېږم چې ورور دې څه کړي؟ هڅه مه کوه څه رانه پټ کړې.

ځان ته غوسه راغله چې د ورور لیک مې کور کې پرېښی او هغه لوستی و، مجبور شوم، ټکی په ټکی ورته ټوله پېښه بیان کړم، بیا مې ورته د کورتی نښې نښانې وویلې.

نا اشنا کس مې سترګو ته په کتو شو. لکه زما په خبرو چې شکمن وي. په فکر کې و، ما هم ورکتل او چوپ وم، سترگې یې رانه واړولې.

- هغه تور پرونر پسې دې و نه کتل چې کوم خوا لاړ؟

- وخت نه و، ما باید یو کار کړی وی!

- بیا هم فکر وکړه، وروستی شېبه کې دې چرته ولید؟

- لکه چې د عاشقانو په کوڅه ورتاو شو!

پاڅېد، کړکۍ ته لاړ. ما لا هم په حیرانۍ ورکتل، هغه تر زنگنو د اغوستي کوټ له جېب نه د سیگرټو ډبی راوویست، یو یې ترې بل او بیا رامخ کړ:

پوهېږې چې زه څنګه په دې هر څه پوی شوم؟

دېوال ته تکیه ودرېدم: همدې فکر کې یم!

کش کړی لوگی یې په دمه، دمه راوویست.

- ما هغه ویډیو ولیده چې ته ځانمرګی په سر وهې!
له پښو مې څمکه وتښتېده: ټوکې کوې؟
لنډ یې وخندل: خبریالان ډېر چالاکه دي، ښه که همدا ویډیو بېګا ته له رسنیو خپره شي، ته به څومره وستایل شې؟ ډېر به مشهور هم شې، خو که تور پرونر کې تللي یې وګوري، بیا به څنګه شي؟
زما وېره یې زیاته کړه، دې کار زما ژوند له ګواښ سره مخ کاوه. باید داسې نه وی شوی، خو ما به د رسنیو مخه څنګه نیولی؟
- تاسو باید د دې کار مخه ونیسئ، مشهورېدل مې نه دي په کار!
راتاو شو.
- بې غمه اوسه، ما یې له مخکې نه مخه نیولې!.
لږ ارام شوم، کټ کې پرتې بکسې ته یې سترګې واړولې.
- په چا دې شک راځي چې ستا ورور یې دې کار ته راضي کړی او دا پیسې یې ورکړي؟
- زه په هېڅ نه پوهېږم او همدا مې ځوروي چې ولې یې داسې کار وکړ؟
سیګرټ یې له خلاصې کړکۍ نه انګړ ته لړه کړ: کاش چې ورور دې د ځانمرګي پر ځای استشهادي کړی وی!
له غوسې مې وخندل: دواړه یوه خبره ده.
را برګ شو: یوه خبره نه ده، استشهادي حمله د ایمان په جذبه کېږي، د خدای ج د رضاء او د کفارو د مردارولو لپاره د ځان قرباني ده، ورور خو دې د پیسو په بدل کې، ستا د ژوند لپاره خپل اخرت خراب او مظلومان یې شهیدان کړل.

ما ته د چاودنې ځای کې د خلکو په وینو لیت پیت جسدونه، زخمیان او چغې سترګو ته ودرېدې، رښتیا هم چې وروور مې ډېر ناسم کار کړی و، بیا دا پوښتنه او ځورېدنه راپیدا شوه چې هغه ولې داسې کار ته تیار شو؟ او چا...
نا اشنا کس د پیسو بکسه راجیګه کړه: ته غواړې په دې پیسو څه وکړې؟
سترګې مې ترې واړولې: کرکه مې ترې شي!
- د وروور غچ دې پرې نه اخلې؟
بې له دې چې زما ځواب ته صبر وکړي، بیا لګیا شو: رښتیا دا ستا وروور چې ووژل، د هغوی غچ به څوک او له چا نه اخلي؟
مطلب یې دا و که د غچ اخېستو خبره شي نو باید له ما واخېستل شي، ځکه زما وروور د پیسو په بدل کې بې ګناه خلک بې ژونده کړي وو!
کېناستم، سر مې په دواړو لاسو ونیو.
- که ځان راوپېژنې، زما اندېښنه به کمه شي!
- باید خپله پوی شې چې څوک او څه کاره یم؟
نور نو شک نه و چې هغه د امنیت کارمند دی، ما باید ورسره ډېر په احتیاط چلند کړی وی.
- که د وروور په کړي کار مې نیسې، نو قسم درته کوم چې زه له هېڅ نه خبر نه یم.
موسکی شو: د یو کس د تېروتنې او ګناه زور له بل چا ویستل سم کار نه دی.
په دې خبره مې ترې وېره په کمېدو شوه.
هغه بیا ځان ته سیګرټ بل کړ.
- تا د عاشقانو کوڅه لیدلې؟ د هغې بل سر خو بند دی، تور پرونر به هملته کوم کور ته نه وي ننوتی؟
زما دې خبرې ته هېڅ نه و پام شوی!

Scanned with CamScanner

ـ کېدای شي!

د سیگرټو ډبی یې له لایټر سره راته ونیو: نوم مې قاسم دی، که بیا ضرورت شو، خوا ته دې راځم!

نور لاړ، بې له دې چې پوی شم څه شي ته راغلی و او څه یې غوښتل؟... کټ کې وغځېدم، ښه شېبه مې ورور سترگو ته ولاړ و، سیگرټ مې څکول او بیا فکرونو، اندېښنو او ناځوابه پوښتنو ته د خیالي څوابونو پیدا کولو کې ویده شوی وم!

سهار د لمر له راپورته کېدو سره راجیگ شوم، د پیسو بکسه مې خوندي کېښوده، د تمانچې شاجور مې ډک او په بډه مې کړه، د دې تمانچې ښه والی دا و چې بې غږه وه او ښه ویشتل مې د عسکرۍ په تعلیمي مرکز کې زده کړي وو، درې میاشتنۍ دوره وه، خو زه ترې په دویمه میاشت راتښتېدلی وم!

د نا اشنا کس له دې خبرې سره چې د عاشقانو د کوڅې بل سر خو بند دی، ما د پړي سر پیدا کړی و او اوس اسانه وه چې د دې لوبې شروع له کوم ځای نه وشي؟ کور نه راووتم. ما نه غوښتل وینه مې سړه او غچ اخېستنه دې بل وخت ته پاتې شي!

په سړکونو لا هم گزمه ایي رنجرې گرځېدې، ډارېدم چې له تمانچې سره و نه نیول شم، ځان مې د عاشقانو کوڅې ته ورساوه، دا کوڅه له قومندانۍ سره په څو سوه مترۍ کې وه، ټول کورونه عصري جوړ شوي، دا معلومه نه وه چې هغه موټر به کوم کور ته ننوتی و؟ او دا چې اوس به هم د همدې کوڅې کوم کور کې وي او که وتلی؟ نه پوهېدم، د دې لپاره چې پوی شوی وی، ټوله ورځ د کوڅې مخ ته تاو راتاو شوم، د سهار چای او د غرمې ډوډۍ مې یو ځای مازیگر کې وخوړه، کوڅې ته څو موټر ننوتل او څو ترې راووتل، خو زه تور پرونر ته انتظار وم...

د ماښام له تیارې سره نور هلته گرځېدو راگرځېدو راباندې خلك شكي كول، باید داسې ځای پټ شوی وی چې كوڅه مې ترې لیدلی شوی. خو دلته هېڅ داسې ځای نه و چې پټ شوی وی. په پای كې یوې ببرې ونې ته وخاتم، كوڅه مې ترې څارلی شوه. دا وېره راسره شوه چې كوم چا خو به ونې ته په ختو نه یم لیدلی؟ خو هلته هېڅ څوك نه وو، ارامه ارامي وه، تیاره خورېده او له ما سره یې په پټېدو كې مرسته كوله....

نه پوهېدم چې دې كوڅې ته ولې د عاشقانو كوڅه ویل كېده؟ او نه هم راته پرې پوهېدل ضرور و، ما باید دا معلومه كړې وی چې هغه تور پرونر رښتیا هم همدلته كوم كور كې دی؟

سیگرټ ته مې سخت زړه شوی و، خو په ځان مې د دې لپاره سخته تېروله چې د لایټر لمبه د كوم چا راپام نه كړي. ساعتونه ووتل، خوب راباندې سر دروند كړ، سترگې مې پټې، پټې كېدې، خو له دې وېرې ویده كېدای هم نه شوم چې و نه غورځم!

شپه پخه شوې وه چې د یو كور دروازه خلاصه او د موټر د گروپونو رڼا كوڅې ته راووته، نږدې له خوښۍ او وارخطایۍ نه لاندې غورځېدلی وم، خو ژر مې ځان كلك كړ، هماغه پرونر راووت چې دویم ځانمرگی ترې راكېوتی و او ما یې لټه كوله، یو ځل بیا راته داسې ښكاره شوه چې خوب گورم، خو كله مې چې د پښې زخمي ځای زور كړ، راغلی خوب مې هم درد وتښتاوه!

موټر له كوڅې راووت او څو شېبو كې له سترگو پناه شو، ویل مې كاش اوس موټر راسره او ورپسې شوی وی. خو زه باید دې ته نه وی خفه شوی، ځكه موټر تللی و، كور نه!

راكېوتم، د څو كورونو په دروازو امنیتي كیمرې لگېدلې وې، له سر نه مې د غاړې دستمال تاو كړ چې پېژندل مې سخت شي، كوڅې ته ننوتم او هماغه

کور ته مې ځان ورساوه چې موټر ترې راوتی و. نه پوهېدم چې هلته به څو کسه وي؟ ویل مې کاش اوس هاغه پخواني کوڅه ډب ملګري راسره او یوازې نه وی، خو دا جګړه زما وه او خپله مې باید مخ ته وړی وی!

د دروازې خلاصول راته سخت نه ول، خو په ټیټ دېوال اوښتل راته ښه ښکاره شول، همدا شیبه یو بل ښه کار دا وشو چې د کور لګېدلي ګروپونه مړه او تورتم شو.

په دېوال له جیګېدو وروسته مې ځان انګړ ته وغورځاوه، د پښې درد مې بیا راوپارېده، خو اوس مې باید دا درد هېر کړی وی، یوې وړې غلطۍ له ما ژوند اخېسته!

خاموشۍ او تیارې مې یو ځل بیا په زړه وېره راننویسته، داسې راته ښکاره شوه چې په خپل لاس ځان مرګ ته ورکوم، خو چې ورور به رایاد شو او هاغه خلك چې هغه له ځان سره بې ژونده کړل، بیا به مې وجود اور واخېسته او دا اور په بل څه مړ کېدای شو؟

په کرارو قدمونو د دهلېز تر دروازې ورسېدم، دروازه نیمکښه وه، څنګه چې مې غوښتل دننه شم، غږ مې واورېد.

- اوس ویده شه، نورې خبرې به سهار کوو!

انتظار مې وکړ چې غږ ویستونکی له دهلېز نه تېر شي. د دروازې د بندېدو له غږ سره ورننوتم!

د خوب ګروپ دهلېز کې پیکه رڼا جوړه کړې وه، دوه خونې او د دواړو دروازې بندې وې، پاس زینه ختلې وه.

شروع مې باید له لاندې نه کړې وی. یوې کوټې ته ورننوتم، سترګې مې له تیارې سره په اشنا کېدو وې.

کټ کې پروت کس داسې فکر وکړ چې زه یې ملګری یم: دلبره بیا څنګه راغلې؟

او چې څو په اړخ رااوښته، ما تمانچه په سر ورایښې وه!

- په کور کې څو کسه نور دي؟

هغه چې له داسې پېښې سره د مخ کېدو په تمه نه و، په بنده ژبه یې وویل: یو بل ملګری مې دی!

غوښتل یې بالښت لاندې ایښې وسلې پسې لاس تېر کړي، خو په سر مې د تمانچې په لاستي ښه کلک وواهه، بې حاله شو، لاسونه او پښې مې ورته وتړلې او بل ملګري پسې یې ورروان شوم، خو څنګه چې له کوټې راووتم دهلېز کې له هغه سره مخ شوم، یو شېبه حیران و، بیا یې پاس منډه کړه، زه هم ورپسې شوم، د زینې نیمایي کې مې له پښې راکش کړ، پړ مخ وغورځېده، په ملا ورکېناستم.

- ښه به وي چې ځان ته یې سخته نه کړې!

د بل ملګري څنګ ته مې راوست، دی مې یوې خالي چوکۍ پورې وتړلو. د دې لپاره چې وګورم کور کې نور څه شته؟ بیا راووتم، په کرار دویم منزل ته پورته شوم، غوښتل مې د پاسني دهلېز د ګروپ بټن پیدا کړم چې په سر مې یو دروند ګوزار وخوړ او زینه کې لاندې ورغړېدم....

چې حال ته راغلم نو زه په یوه چوکۍ تړل شوی وم او هغوی دواړه خلاص شوي چې ما تړلي وو، کوم یو چې زه په سر وهلی وم، تلیفون کې په نورو ملګرو زېری کاوه!

د خلاصېدو لار نه وه، ښکاره وه چې هغوی زه ژوندی نه پرېښودم او په سختو شکنجو یې وژلم. تلیفون والا نورو دواړو ته رامخ کړ.

- رئیس یې ښه راغلاست ته راځي!



Scanned with CamScanner

ما باید یو څه کړی وی، خو څه مې کولای شوو؟ کلک تړل شوی وم او هر څه په فکر نه کېدل!

ما چې زینو کې راغورځولی و، هماغه یو کلک سوک په خوله راکړ، غوښتل یې خپله ټوله غوسه راباندې سړه کړي خو همدا شېبه د کور دروازه راوټکېده او هغه ورمنډه کړه: رئیس لکه چې راغی!

نوز دواړه ما سره پاتې شوو، کوم یو چې زه په دې حال اخته کړی وم، د ملنډو خندا وکړه: هغه ډېر مهربانه دی!

بل ملګري یې سیګرټ بل کړ: اوس به یې خپله وګوري.

دوی لکه چې د خپل رئیس په اړه غږېدل.

سیګرټ والا په کش کړي لوګي وټوخل: رئیس خو موټر کې راځي، دروازه څنګه راوټکېده؟

ناڅاپه په درز د کوټې دروازه راخلاصه شوه، یو کس راننوت، دواړه یې یوه شېبه کې په بې غږه وسلې هغې نړۍ ته ولېږل، لکه خدای ج چې زما مرستې ته فرښته رالېږلې وي. راننوتي کس د توري خولۍ کورتۍ اغوستې وه، چې رامخ یې کړ نو له حیرانۍ مې سترګې وازې پاتې شوې.

هماغه د امنیت کارمند و چې نوم یې قاسم راښودلی و!

دې ته حیران وم چې هغه له کوم ځای نه داسې وخت کې راپیدا شو؟

زما خوله او لاسونه یې خلاص کړل.

- زړور یې؛ خو کار دې خام و!

اوږده ساه مې واخېسته.

- ته او دلته؟ هېڅ مې باور نه راځي؟

په اوږه یې لاس رازور کړ، شنې بخنې سترګې یې غونجې شوې: ته ساه سمه کړه، زه به کور له سترګو تېر کړم!

ما ته د هغوی د رئیس راتګ رایاد شو.

- د هغوی رئیس راروان دی، باید ژر له دې ځایه پښې وباسو.

لنډ یې وخندل: د هغه راتګ ته انتظار کوو!

تېرې شوې پېښې سخت ډارولی او بې زړه کړی وم. ویل مې هسې نه چې له دې بده راشي.

د لاندې منزل دواړو کوټو کې هغه څیزونه وو چې په ورځني ژوند کې ترې ګټه اخېستل کېده، بیا دویم منزل ته پورته شوو، هلته لا هم تیاره وه، قاسم ډېر په ارامۍ له ما مخکې لاړ، زه بس همدې ته په تمه وم چې څه به کېږي؟ او هسې نه هلته کوم بل کس وي، خو زما شک بې ځایه و، لږ وروسته رڼا شوه.

- څوک نه شته.

خوا و شا ټوله له شیشه ایي بوتلونو ډکه وه، چې د زیتون د دانو او تېلو نه ډک وو. هغوی د یو ښه کار تر شا، تور کار مخ ته وړه. موږ ته هېڅ په لاس رانغلل، ګروپ مو بند او راکېوتو، دا وخت د موټر د رانږدې کېدو غږ راغی.

زه وارخطا شوم: لکه چې رئیس یې راغی، څه به کوو؟

هغه بې له دې چې وډار شي، ما ته یې هم ډاډ راکړ چې هېڅ خبره نه شته، زه درسره یم، بیا یې رانه وغوښتل چې ژر د یو کس دریشي واغوندم!

ما ژر له یو مړي نه دریشي وویسته او د کالیو د پاسه مې واغوسته. د یوې کوټې کړکۍ لویې دروازې ته مخامخ وه. قاسم راته په بیړه، بیړه سپارښتنې شروع کړې: ته به دروازه خلاصه کړې، زه دلته پاتې کېږم. باید و نه ډار شې، چې پوی شوو هغوی څو کسه دي؟ بیا به ګورو چې څه وکړو؟ زه له کړکۍ ستا ساتنه کوم، خو که ته تېروتنه وکړې نو له ځان سره به ما هم د مرګ خولې ته ورکړې...

همدا شېبه د دروازې په چاودونو کې د موټر د گروپونو رڼا راننوته او تېز هارنډ يې څو ځله وواهه. زما وارخطايي نوره هم زياته شوه، هغه ډيکه کړم.
- ورځه، دروزاه خلاصه کړه!
زړه نه مې يو خدای خبر و، ورروان شوم، د انگړ کونج کې د ولاړ بوټي بېخ ته هغه کس پروت و چې د رئيس پر ځای يې قاسم ته دروازه خلاصه کړې وه... تور پرونړ رانوت، موټر کې ناستو زه څکه و نه ليدم، چې ما د دروازې له خلاصولو سره ځان د هغې شاته پناه کړ، کله مې چې بېرته دروازه بندوله هم هغوی ته مې شا وه، درې کسه ترې راکښوتل، خندل يې او ځنگېدل، بې له دې چې ما ته وگوري، دهلېز ته ننوتل...
لا مې هم زړه درېږده چې يو غږ شو: څوك مو نيولی؟ چرته دی؟...
ما تمانچه لاس کې ونيوه، که ملگری مې له ستونزې سره مخ کېده، نو زما مسؤليت و چې ويې ژغورم، د کوټې د دروازې د خلاصېدو غږ مې واورېد، اوس به نو ضرور يو څه کېدل!
د دهليز د دروازې له چاود نه مې دننه کتل، دوه کسه په کوچونو وغځېدل او درېيم چې اوږده وېښته شاته اړولي او لکه د ښځو يې پوني کې بند کړي وو، هماغې کوټې ته ورننوت چې قاسم په کې کمين نيولی و.
د زړه درزا مې همداسې زياتېده او لړزې نيولی وم چې د قاسم غږ مې واورېد: که هر يو وخوځېدئ، د ده ماغزه شيندم!
او چې دننه مې وکتل نو هغه د څڼور په سر تمانچه ايښې او له کوټې رابهر کړی و.
هغه دوه چې کوچ کې پراته وو، رانبغ شوو، نشه ترې والوته، يو چاقو راوويست، وسلې يې لکه چې موټر کې پرېښې وې، وارخطا او حيران وو.

Scanned with CamScanner

قاسم دا خل ما ته راغبر کړ: راځه ملگریه، دا گیدړان اوس زموږ په ولکه کې دي!

ژر دهلېز ته ورننوتم، چاقو والا ته مې تمانچه ونیوله چې چاقو وغورځوي، چاقو یې وغورځوه، ترې مې وغوښتل چې د خپل بل ملگري لاسونه د غاړې په دستمال وروتړي، دستي یې په ملگري لاسونه شاته تاو او وتړل، د ده لاسونه ما وروتړل...

بیا د څنوږ خوا ته ورغلم، تمانچه یې لا هم په بله وه، خو د راویستو وخت یې نه و پیدا کړی، ما چې څنگه غوښتل د هغه تمانچې ته لاس کړم، ناڅاپه مې د پښو منځ کې یوه سخته لغته وخوړه، درد مې په سترگو تیاره کړه...

ډز مې واورېد او له ډز سره یو ځای چغه.... څنوږ ما ته لنډ پړ مخ وغورځېد...

راکښناستم، هغه دوه مې چې تړلي وو، سپینې یې تښتېدلې وې. درد مې نه و کرار شوی، خو باید زغملی مې وی، ځکه نه ویل کېدل چې بله بلا رانازله نه شي.

قاسم ژوندیو دواړو ته ورلنډ شو.

- هره پوښتنه چې کوم سم ځواب راکړئ.

دواړو د سر په خوځولو سمه ده وکړه.

- تاسو کې رئیس کوم یو دی؟

د هغوی سترگې مړي ته واوښتې.

- د رئیس، رئیس مو څوک دی؟

یو یې په زاریو شو: د خدای لپاره موږ ته څه مه وایه، موږ په هېڅ نه پوهېږو. هر کار مو د دغه رئیس په خوښه کاوه چې اوس تا وویشت او د هغه رئیس موږ نه پېژنو.

ما ورچغه کړه: پروني ځانمرګي د قومندانۍ مخ ته چا رسولي وو؟
یو بل ته په کتو شول، پوی شوم چې هغه کوي د دروغو ځواب جوړ کړي،
له کوټې مې د هغوی مړه ملګري راکش او د څنډور له جسد سره یو ځای
واچول: که رښتیا مو و نه ویل، دوی سره مو یو ځای کوم!
دا ځل قاسم وربرچ وهل: پروني ځانمرګي چا رسولي وو؟
تور مخي په مړو کې یو ته په سر اشاره وکړه.
- هغه او ده وړي وو!
دویم کس یې څنګ ته ناست ملګری وښود.
له دې خبرې سره ما په هغه کس ورټوپ کړ، څو سوکه مې وواهه: له هادي
مو څنګه ژوند واخیسته؟ هغه پیسې چا ورکړې وې؟ هغه مو له کوم ځایه
پیژنده؟...
قاسم کش کړم: ارام شه!
او داسې یې پوی کړم چې ما خپل کار ته پرېږده!
زه راشاته شوم، د هغه کس له پوزې وینه روانه وه، په غوسه یې راکتل.
قاسم تمانچه په سر ورکېښوده.
- هغه ځانمرګي مو له کومه کړي وو؟
پوزه یې کش کړه: نه یم خبر!
ما پرې ورچغه کړه: خبر یې، انکار مه کوه، ګنې ولم دې!
قاسم بیا رامخ کړ چې غلی شم.
- مخکې مو څومره ځانمرګي هدفونو ته رسولي؟
ما چې وهلی و، هماغه وویل: تر اوسه مې درې ځانمرګي رسولي!
قاسم دا ځل هغه بل ته مخ کړ: او تا؟



Scanned with CamScanner

هغه بیا ربړد ونیو: صیب... ما بد کړي، زه توبه وباسم... ټول کارونه د رئیس وو، موږ نور په هېڅ نه یو خبر چې ځانمرګي له کوم ځایه راتلل؟ چا راوستل؟ چا راضي کول؟ او چا پیسې ورکولې؟ موږ یوازې د رئیس په امر سیمې ته رسول، نور له هېڅ نه خبر نه یوو.

له ګرېوان نه مې راونیو: دا د زیتونو کاروبار د چا دی؟

- دا هم د رئیس دی، یو بل کس ورسره شریک دی، خو زه یې نه پېژنم!

قاسم رامخ کړ: دا حرموني دروغ وایي، ته یې سزا ورکړه.

تمانچه مې ورته ونیوله، دواړه لړزې ونیول، په سترګو کې یې زارۍ وې، ګوته مې ماشې ته نه ورتله.

قاسم پوی او غوسه شو: تا غوښتل د ورور غچ دې واخلې، څه شي ته ورته ګورې؟ ژر یې کیسه ختمه کړه!

ورور مې بیا سترګو ته ودرېد، نور مړي، زخمیان، چغې... دوی حق نه لره چې ژوندي پاتې شوي وی او ما حق لره چې ژوند یې ختم کړم!

په دواړو مې پوره شاجور تش کړ... زړه مې درزېده او تېزه، تېزه ساه مې اخېسته، سترګې مې جال، جال شوې، کېناستم، هېڅ مې باور نه کېده چې دا کار دې ما کړی وي... یوازې څو ورځې مخکې داسې څوک نه وم، ما د چا د وژلو خیال هم نه شو کولای... خپل تېر ژوند راته شېبه، شېبه مخ ته ولاړ و، ګډو وډو فکرونو کې ورک وم چې قاسم په اوږه لاس راکېښود.

- ځوو!...

# (۲)

شپه مې له قاسم سره وکړه، د ښار یوه تنګه کوڅه کې د جوړ شوي مارکېټ، څلورم منزل کې یې بلاک و.

سهار مې چې سترګې خلاصې شوې، لږه شیبه فکرونو کې ورک وم چې هغه له کوټې راووت، د سهار په خیر له ویلو وروسته یې راته وویل چې جامې مې تشناب کې درته راځوړندې کړې دي!

پاڅېدم، تشناب یې راوښود: دې خوا لاړ شئ!

هینداره کې مې ځان ته پام شو، ما په دوه ورځو کې ډېر تغیر کړی و. ږیره مې هلته ایښې ماشین باندې کمه کړه، حمام مې وکړ، د هغه جامې پر ما جوړې وې، لکه همدا ما ته چې ګنډل شوې وي. کله چې له تشناب نه راووتم، پر مېز یې خواړه ایښي وو.

- سهارنی به وخورو!

ما له کېناستو سره ترې وپوښتل: بېګا هلته څنګه راغلئ؟

له چایو نه یې غړپ وکړ: تا هېر کړل چې زما دنده څه ده؟

بیا یې وخندل: تا ته به معجزه ښکاره شوي وي؟

- له معجزې کمه نه وه، په زړه مې خوړلې وه چې نور به د ژوند مخ و نه ګورم!

سترګې یې سترګو کې راواچولې.

- له دې هم سخت حالت سره مخ کېدای شې، دا خو یې شروع ده!

بې حوصلې شوم: زما پوښتنه دې ځواب نه کړه، ته هلته څنګه راغلې؟

موسکی شو: نو ښه کار و نه شو چې زه درغلم؟

- که ته نه وی راغلی، اوس به بله دنیا کې وی، خو زما فکر کې هم نه وه، چې ته به راشې!

لږ غلی و، بیا یې وویل: ډېر څه زموږ فکر کې نه وي، خو راځي او کېږي!

کله چې تا راته وویل تور پرونر د عاشقانو کوڅې ته ننوت نو شکي شوم چې کېدای شي همغه کوم کور کې به وي. د عاشقانو کوڅه کې مې د یو ملګري کور و، له هغه سره مې اړیکه وکړه چې هلته کوم کور والا تور پرونر لري؟ ویل دلته خو د څو کورونو والا تورې پرونرې لري، نه پوهېږم چې ته کوم یادوې؟

پرون شپه مې هم له هماغه ملګري سره وه او بېګا هم له هغه سره د کور په دویم چت کې ناست وم، کوڅه مې د سترګو لاندې وه، داسې مې ګڼله چې ته به هم یو ځل د دې کوڅې لیدو ته راځې او د ورور د غچ اخېستنې جذبې ښتیا هم راوستې!

کله چې کور ته واوښتې او لږه شېبه وروسته د کور مړ شوی ګروپ بېرته روښانه شو، پوی شوم چې بې پلانه کار کې له ماتې سره مخ شوې. دروازه مې دروټکوله، دا چې وروسته څه وشول؟ تا خپله ولیدل!

د هغه حق جوړېده چې مننه مې ترې کړې وی: کور ودان، ډېر ښه وخت کې راورسېدې او زما ژوند دې وژغوره!

د چایو گیلاس یې په سر واړوه: نو ته په رښتیا د خپل ورور غچ اخېستل غواړې؟

- بېشکه؛ تا خو ولیدل چې د همدې لپاره مې ځان مرگ ته ورکړی و!

- فکر کوې چې د دوه کسو په وژلو دې غچ واخېست؟

- چا چې زما ورور د قومندانی مخ ته وړی و، هغه مې وواژه!

سیگرټ یې بل کړ: چا چې پیسې ورکړې وې، هغه خو لا پاتې، چا چې ورسره خبره کړې او دې کار ته یې راضي کړی و، هغه خو لا معلوم هم نه دي او رښتیا دا پوښتنه دې هم و نه کړه چې ما ولې بېگا څو کسه ووژل او تا ته مې هم د دوه کسانو د وژلو اجازه درکړه؟

خبرو یې زه فکر کړم، هغه لږ غلی و، بیا یې وویل: ستا د ورور او هغه خلکو په وژلو کې چې یو ځای ورسره مړه شوو یو کس، دوه کسه او لس کسه شریک نه دي. دا یوه لویه، قوي ډله ده چې ځانمرگي، هدفي وژنې، بمونه ایښودل، تښتونې، قاچاق او وېره خورول یې تجارت دی، د رحم په نوم هېڅ نه پېژني، ځکه ورسره باید له رحم نه کار وا نخېستل شي او که ته رښتیا هم د ورور غچ اخېستل غواړې، د یو شخص، دوه او لسو کسو په وژلو دا کار نه شي، تر څو چې هغه سوړه نه وي بنده شوي، له کومې چې دا ټول راوځي او یوازې د ورور بدل اخېستل دې نه دي، د هغوی ټولو بدل اخېستل ستا مسؤلیت دی چې ورور دې له ځان سره ووژل...!

خبرې یې بېخي عجیبه وې، ما خو فکر کاوه چې هماغه تور پرونر کې ناست کسان زما د ورور او هلته نورو ټولو وژل شویو قاتلین دي او ما خو تېره شپه خپل غچ اخېستی و.

له فکره راووتم: نو دا سوړه به څنګه بندوو؟
سیګرټ یې مړ کړ.
- زه یوازې همدومره پوهېدم چې درته مې وویل او د دې لپاره چې نور هم پوی او مخکې لاړ شوو، باید شریکه هڅه وکړو!
پوی نه شوم چې له شریکې هڅې نه یې مطلب څه دی؟
- زه باید دا وېره له زړه نه وباسم چې حکومت به مې ونیسي؟
ځواب یې را نه کړ. زه هم چوپ شوم...
ځان ته یې پیاله ډکه کړه: تا ته به یې هم ډکه کړم!
- نه یې څښم!
هغه له کړکۍ د بهر په سَیل شو: زه حق لرم چې تا خپل همکار ونیسم، خو زموږ له کارونو باید یوازې زه او ته خبر اوسو!
ډاډ مې ورکړ چې ښه راز ساتونکی یم.
لاس یې راوغځو: هیله ده چې ځان ښه همکار ثابت کړې!
ما یې لاس زور کړ: پر ما باور به دې بې ځایه نه وي!
ودرېد: اوس باید لاړ شم چې لږ کار لرم. زه دلته یوازې د ضرورت په وخت کې راځم، دا بلاک مې خپل دی او ته یې هم خپل ګڼه!
بیا یې کیلي راکړه: ماښام سره ګورو!
هغه لاړ. زه د اپارتمان په سیل شوم، دوه خونې، پخلنځی، وړوکی دهلېز، کوچونه، مېز، چوکۍ... او ټولې اسانتیاوې په کې برابرې وې. ما له کړکۍ د بهر ننداره هم کولای شوه.
د قاسم عمر به له څلوېښتو اوښتی و، ږیره یې خرېله، برېت یې پرېښي وو، ګڼې وریځې یې وې، د سر واړه ویښته یې تور او سپین وو. په وجود له ما ښه او رنګ یې هم تازه و. بې شکه چې یو ښه مامور به و.

زه خو یو کوڅه ډب انسان وم، یوازې په هغه څه پوهېدم چې د پردې مخ ته ښکارېدل، خو هر څه د پردې له شا نه د پردې مخ ته راځي!

اوس نو دا څورېدنه نه وه پاتې چې له کوم ځایه پیل وشي؟ پیل خو شوی و او زه د مرگ له خولې نه هم راخلاص شوی وم، دوه کسه مې هم ویشتي وو، هغه وخت چې زه چوکۍ پورې تړل شوی وم، دا پیل راته ډېر بې خونده او ناکام ښکارېده، خو اوس چې د قاسم بلاک کې وم، داسې مې گڼله چې ډېر ښه پیل شوی او پای به یې ضرور ښه وي!

ما ځان ته پیاله ډکه کړه او له کړکۍ د بهر په سیل شوم، د موټرو او انسانانو رش جوړ و، همداسې رش کې پرون زما ورور..... او که اوس د کوم بل چا ورور هماغسې وکړي؟.... قاسم پوی کړی وم چې زموږ جنگ د وطن له دښمن سره دی او که په دې لار کې مرگ راشي، نو خدای ج ته به په جیگو سترگو روان یوو!

د پیالې له تشولو وروسته مې خپل کور ته د تگ اراده وکړه، له ښه بخته کور ته په لار هېڅ بلدې سره مخ نه شوم، د پیسو بکسه کې مې دوه جوړه جامې کېښودې، د مور د لاس یوازینۍ نښه مې راواخېسته، چې یو خراب شوی لاسي ساعت و او بېرته د قاسم بلاک ته روان شوم، ځکه دلته نور ما ته وخت تېرول سخت وو، هر څه مې ورور او مور رایادوله...

دوه بجې وې چې قاسم راغی، له سترې مشو سره یې وویل: څومره خلک خبر دي چې ستا ورور ځانمرگی کړی؟

هغه مې سترگو ته راکتل، ځواب مې ورکړ: یو زه او ته خبر یوو او له دې خو هېڅ څوک خبر نه دي چې هغه له محبس نه کله راخلاص شوی؟

په چوکۍ کېناست، یوه پښه یې پر بلې واړوله.



Scanned with CamScanner

- ربښتیا هغه په څه شي بندي شوی و؟
د هادي په کار وشرمېدم، سترګې مې بل خوا کړې: غلا کې نیول شوی و!
په فکر کې شو... ما یې بلې پوښتنې ته انتظار ویست...
- ته څه وایې چې بېګا به زمونږ له راتلو وروسته په هغه کور کې څه شوي وي؟
پوښتنه یې جالبه وه، ورته مې وویل: د وژل شویو کسانو ژوندي ملګري به حیران شوي او پوهېدلي وي چې هغه نیول شوی کس (یانې زه) یو چالاک دښمن دی!
- یانې زما په اړه به یې فکر ته څه ور نه شي؟
پوی شوم چې د قاسم مطلب دی هغه خلک داسې ړانده او جاهل مه ګڼه، ضرور په دې پوهېږي چې یو تړل شوی کس په هېڅ حالت کې شپږ کسه نه شي وژلی، پرته له دې چې یو بل درېیمګړی صحنې ته نه وي راننوتی!
همدا شېبه د قاسم تلیفون ته زنګ راغی، جیګ شو، له کوم چا سره په خبرو شو، بیا راغی!
- باید یو چېرته لاړ شو!
- چېرته؟
- کله چې ورسېدې، پوی به شې!
زه په چوپه خوله هغه پسې له اپارتمان نه ووتم. د زینو په پای کې یې رامخ کړ: ستا موټر زده دی؟
- زده مې دی، خو ډېر وخت مې نه دی چلولی!
ساعت ته یې وکتل: اول به غرمنی وکړو.
دویمې کوڅې ته تاو شوو، هلته چای خانې او هوټلونه وو. یو عادي هوټل ته ننوتو، غنمرنګ، غټې سترګې شاګرد یې له قاسم سره مخکې نه پېژندل، زه یې

هم ورووپېژندم: دا مې ملګری (کامران) دی. شاید له نن وروسته دې ګاک جوړ شي.

شاګرد راته موسکی شو: هر کله راشې!

زه دې ته حیران وم چې قاسم ولې هغه ته زما خپل نوم و نه ښود؟

کله چې شاګرد لاړ او مونږ کېناستو نو ما ترې همدا پوښتنه وکړه.

په مېز راتکیه شو: ته نور باید په همدې نوم خلکو ته ځان ورو پېژنې!

ډوډۍ ژر راغله، قاسم مړۍ خولې ته کړه: ملګري مې خبر راکړ چې بېګانې کور ته یو ساعت مخکې یو بل تور پرونړ راغی. هغه د امنیې قومندان د ترورزي کور دی.

حیران شوم: د امنیتې قومندان د ترورزي کور دی؟

کاغذي دستمال یې په برېتو تېر کړ: هو.

- زما خو هېڅ باور نه شي!

موسکی شو: په ډېرو شیانو زموږ باور نه شي، خو روان دي!

- اوس څه کوو؟

- انتظار باسو، چې له کور نه راووځي، ملګری مې خبروي.

- نو تعقیبوو یې؟

- هو؛ دا لوبه بل رقم نه ختمېږي، اوس طرف معلوم شوی!

- خو موږ سره موټر نه شته!

ویې خندل: ما یې غم خوړلی!

موږ انتظار د چایو په څښلو لنډاوه، تلیفون یې هم راته اخېستی و، ویل شمېره مې په کې ثبت ده، د اړتیا په وخت به سره اړیکه نیسو، خو پوی یې کړم چې زموږ تلیفوني خبرې هم خوندي نه دي!

انتظار ختم شو، قاسم ته زنګ راغی، جیګ شو: ناست اوسه، ژر راځم!



Scanned with CamScanner

د هغه له تګ نه وروسته مې سیګرټ ته زړه وشو، هاغه شاګرد ته مې ورغږ کړ چې قاسم ورپېژندلی وم: یوه کوتۍ سیګرټ، له لایټر سره!
پیسې یې واخیستې او په منډه ووت. لږه شېبه وروسته یې راورسول. مننه مې ترې وکړه، چې څنګه مې سیګرټ بل کړ، قاسم تورې کرولا کې راورسېد، ورووتم، مخکې سیټ کې ورسره کېناستم، حرکت یې وکړ: ملګري مې خبر راکړ چې له هغه کور نه دوه پرونره راووتل.
- ځان ورپسې ورسوه!
- دا کار ستا دی!
حیران شوم: تا ویل شریکه هڅه به کوو!
همېشنۍ لنډه خندا یې وکړه: هغه کار چې یو کس کولای شي، دوه کسه پرې باید له کاره و نه وځي.
موټر یې ودراوه: راځه کښه ورته، ښه چانس ولرې!
- هغوی چېرته روان دي؟
- ته ځان نوي سړک ته ورسوه، ورسره مخ به شې!
نوي سړک ته لس دقیقو کې ورسېدم، انتظار مې د یو ځنګېدلي ترنم په اورېدو خلاص شو. دواړه پرونرې په یو شغ له ښاره د سیند اړخ ته په غځېدلي سړک تېرې شوې، ورپسې شوم. نه پوهېدم چې چېرته ځي؟
کله چې د وچ چوک درې لارې ته ورسېدل، یو پرونر د سور چوک په سړک تاو شو او بل مخامخ لاړ، اوس نو زما کار سخت شو. نه پوهېدم څه وکړم؟
وچ چوک ته نږدې کېدم، باید دستي مې پرېکړه کړې وی.
همدا شېبه مې تلیفون وشرنګېده، د قاسم زنګ و، ژر مې اوکی کړ.
- کارغان الوت کوي، که مرداره یې موندلې؟

اول یې په خبره پوی نه شوم، خو بېرته مې پام شو چې له کارغانو یې مطلب توري پرونړې دي، له الوت نه یې مطلب حرکت دی او له مردارې یې مطلب هغه ځای دی چې دوی ورروان دي. ما باید هغه ته بېرته په همداسې ژبه ځواب ورکړی وی.

- کارغان لا هم الوت کوي، خو زه اوس یوازې د یو کارغه سیل کوم، ځکه ملګري یې ترې لاره بېله کړه!

خوشاله شوم چې په خبره مې پوی شوی و.

- ښه به وي چې د یو کارغه د الوت سیل زه وکړم، خو که پوی شم چې هغه اوس د اسمان په کومه څنډه کې دی؟

- ته د وچ چوک له درې لارې، سور چوک ته په تللي سړک د هغه د الوت سیل په اسانۍ کولای شې!

- زه همدلته نېژدې یم، د کارغانو الوت هم ځانګړی خوند لري، ښه سیل درته غواړم!

اړیکه پرې شوه، ما موټر ته پښه ورکړه، په څو شېبو کې تور پرونړ ته چې کارغه مو نومولی و، نږدې شوم...

د وطن دا سیمه پراخه دښتو نیولې، یو ځای پرونړ برېک وواهه، د سړک غاړې له دوکان نه یې څه توکي واخېستل، ما موټر کرار کړ، داسې مې وګڼله چې هغوی تر اوسه نه و خبر چې زه یې څارم خو اوس شکي شوي او غواړي زما د موټر له تېرېدو وروسته روان شي، خو داسې نه وه. هغوی حرکت وکړ او زه بیا ورپسې په دومره فاصله کې چې شکي نه شي، روان شوم.

کله چې موټر پر سیند جوړ شوي پول نه تېر او هلته په خامه سړک تاو شو، له لږ تګ وروسته ودرېد، دوه دریشي کړي ترې راکښوتل، ما ژر موټر د یوې لویې تیږې شاته ودراوه، چې د هغوی له سترګو پناه شم، دواړو یوه شېبه شا و



Scanned with CamScanner

خوا وڅارله، بیا یې وروستۍ دروازه خلاصه او څو غټ، غټ، ډک تور پلاستیکونه یې په شریکه سیند ته وغورځول، له شک پرته چې د شپنې پیښې جسدونه وو.

نه پوهېدم څه وکړم؟ تش سیل مې کاوه چې دواړه بېرته پرونر ته وخاتل، ما ویل کېدای شي هماغسې نېژدې ښار ته لاړ شي، خو موټر پاخه سړک ته رارسېدو سره بېرته زما خوا ته راتاو شو، په سړک دواړو خواو ته تر لېرې کوم بل موټر نه ښکارېده، وارخطا شوم، که مخامخ ورتلم، نو بیا بېرته ورپسې راتاوېدل، سم کار نه و او که له هغوی مخکې تاوېدم، بیا به مې هم په لوی لاس شکي کړي وی چې څنګه تر اوسه داسې روان وم او اوس بېرته داسې روان شوم!؟

ژر له موټره راکېوتم، په چاقو مې ټېر وواهه، هوا یې ووته، بیا سړک ته د تیږو په کولولو شوم چې موټر ورته ودرېږي، څنګه چې پرونر راورسېد، برېک یې وواهه، شیشه یې ښکته کړه، دواړه په وجود له ما قوي او غټ وو. ډرېور په ورانو سترګو راوکتل: دا څه جک وهې؟

خو مخکې له دې نه چې زه ورسره ستونزه شریکه کړم، پنچر شوی ټېر یې ولیده.

ما په عاجزۍ وویل: وبښئ؛ ما ویل هسې نه چې راته و نه درېږئ، مجبور شوم داسې کار وکړم، که جیک درسره وي او زه پرې د موټر ټېر بدل کړم، نو لویه مرسته به مو وي!

ډرېور خپل ملګري ته چې ما سره لګیا و، لږه شېبه وپسېده، بیا یې ما ته رامخ کړ.

- وخت نه لرو، ژر لار خلاصه کړه!

ما ژر ځواب ورکړ: جیک راباندې خرڅ کړئ، هر څومره روپۍ چې غواړئ، درکوم یې، خو زه اوس ستونزه کې یم، دلته نه مستري شته، نه راته موټر ودرېږي!

هغوی بیا یو بل ته وکتل، د ډرېور سترګې لا ورانې شوې، خو بل ملګری یې راکېوت.

له ډالې نه یې جیک راوویست: واخله!

جیک مې ترې واخېست: کور ودان، خدای دې ښه درسره وکړي!

بیا مې جېب ته لاس کړ چې د پیسو راویستو تمثیل وکړم، خو هغه روان شو. ما پسې غږ کړ.

- پیسې یې نه اخلئ؟

له رامخ کولو سره مې په دروند جیک وواهه، په موټر وروغورځېد، ډرېور چې پوی شو، لومه ده، وارخطا شو، غوښتل یې وسله راوباسي، خو زه دستي وروستي سېټ ته ورپورته شوم او تمانچه مې په سر ورکېښوده.

- تکلیف مه وباسه! وسله دې کېږده او ښکته شه!

بې له دې نه چې کوم ناسم غبرګون وښايي، ښکته شو.

له موټره مې پرې غږ کړ چې په ګونډو شي او لاسونه په سر کېږدي!

کله یې چې زما امرونه پر ځای کړل، ورښکته شوم، په جیک مې چې وهلی و، له سره یې وینه تللې او بې حاله پروت و.

- هغه بل پرونر چرته لاړ؟

ځمکې ته یې کتل.

- زما غږ نه اورې؟

بیا یې هم څه و نه ویل.

- ښه نو ته غواړې چې بل ملګري سره دې یو ځای کړم!
برګ، برګ یې راوکتل: هېڅ درته نه وایم!
چغه مې کړه: نه یې وایې؟
له نه سره مې په سر وویشت چې مخ یې و نه پېژندل شي، بیا مې دواړه جسدونه سیند ته وغورځول او د قاسم د موټر پر ځای تور پرونړ کې ښار ته روان شوم!
لا مې په دې فکر نه و کړی چې ما سم کار کړی که ناسم؟ او قاسم ته مې باید څه ویلی وی؟ هېڅ نه پوهېدم، ماښام تیاره وه چې له لېرې مې د ښار رنګارنګ څراغونه ولیدل، موټر مې یوې غاړې ته ودراوه، ومې کتل چې څه په کې دي؟ دوه موبایلونه وو، خو دا چې لاک وو، په درد مې نه خوړل کېدل. د شرابو بوتل چې نیمایي څښل شوی و او یوه کوټی سیګرټ. له سیګرټو مې یې یو بل کړ، د موټر کیلي مې په خپل ټول زور سره وغورځوله او په پښو ښار ته روان شوم.
تشویش لا هم راسره و، که له قاسم سره مې هماغه وخت چې له موټر نه یې جسدونه غورځول اړیکه کړې وی، نو اوس به مې فکر دومره نا ارام نه وی.
سل فکرونه مې سر کې ګرځېدل او شېبه په شېبه راته د پښېمانۍ احساس پیدا کېده، دا ښه وه چې تر دې دمه نه وم وژل شوی، خو په دې لاره نور مخ ته تګ کې خامخا وژل کېدم!
یو ځل مې زړه کې تېره شوه چې د قاسم له کور نه خپلې پیسې او جامې راواخلم، شپه خپل کور ته یوسم، سبا پولې ته نږدې د خپلې مشرې ترور کور ته لاړ شم او له دې ټولو سترو او غمونو چې شېبه په شېبه زیاتېږي، ځان خلاص کړم، خو چې بېرته مې ورور راسترګو ته شو او د قاسم مرسته او له هغه

سره کړې ژمنه، دا ناځواني مې وجدان و نه منله، د ورور د غچ اخېستو قسم مې باید پوره کړی وی او دا غچ د څو کسانو په وژلو نه اخېستل کېده!

د قاسم کور ته ورسېدم، ما ویل کېدای شي هغه له ما مخکې راغلی وي، خو تیاره او خاموشي وه، پوی شوم چې نه دی راغلی. څنګه مې چې د ګروپ بټن ووهله، نو په هماغه ډول چې زموږ کور کې د شپې له قاسم سره مخ شوی وم، یو ځل بیا ورسره مخ شوم.

- ستړی مه شې!

- تا سره داسې مخ کېدل مې هېڅ ښه نه راځي!

له چوکۍ راجیګ شو: ډېر کارونه د ضرورت لپاره کوم!

بې له څه ویلو کوټې ته روان شوم چې هغه راغږ کړ: راځه کېنه!

ما ورمخ کړ: د خبرو هېڅ حوصله نه لرم.

زما خبرې خوند ور نه کړ.

- باید دومره پوی شم چې ته له څه سره مخ شوې؟ او زما موټر دې چېرته ودراوه؟

ورتاو شوم.

- هغه پرونر کې د شپنۍ پېښې جسدونه وو، سیند ته یې وغورځول. دوه کسه وو، دواړه مې ووژل او په خواشینۍ سره چې ستا موټر د پېښې ځای کې پاتې شو او زه د هغوی موټر کې ښار ته راغلم.

زما خبرو د قاسم رنګ بدل کړ، ښه شیبه غلی و، بیا یې د لاسونو ګوتې یو بل کې وروستې.

- تا دومره هم نه شو کولای چې ما سره اړیکه ونیسې؟ ته پوهېږې چې هلته زما د موټر پرېښودل ما له کومو ستونزو سره مخ کوي؟ همدا چې و دې لیدل جسدونه یې سیند ته وغورځول، د هغوی څارنه به دې پرېښې وی.

ما ځواب نه لره، غلی وم، هغه سیګرټ بل کړ: موټر پسې به څوک ولېږم، خو بل ځل داسې بې مشورې کار و نه کړې، په زوره ځان مه وژنه!
ډاډ مې ورکړ او بیا مې ترې پوښتنه وکړه چې تا څه وکړل؟
- زه سور چوک ته نږدې هغه پرونر پسې ورسېدم، د ترافیکي اشارې له سرې کېدو سره موټرې ودرېدې، یو خړ پړ ماشوم موټرو ته سپیلني لوګی کول، زما موټر ته چې د هوټل له خاوند نه مې اخېستی و، راغی، هغه ته مې سلګون لاس کې کېښود او ترې مې وغوښتل چې څو موټره مخکې د ولاړ پرونر ټېر پنچر کړه، هغه د نر زوی هم یوه شېبه کې خپل کار وکړ او هماغسې لاړ.
اشاره چې شنه شوه، له لږ تګ وروسته د سړک غاړې ته ودرېدم او انتظار شوم چې هغوی څه کوي؟
له سیګرټ نه یې اوږد کش وکړ.
- پرونر زما له موټر نه لږ مخکې بریک وواهه، ډرېور ترې راښکته شو، ټېر ته یې لغته ورکړه، چا ته یې زنګ وواهه، بیا یې جیک راوویست او پنچر شوي ټېر ته کېناست، هغه شېبه چې ما غوښته رارسېدلې وه، له موټره راکېوتم، هلته لنډ د سایکلو او ولچرو دوکان و، ژر ورغلم، یو ولچر کې چې د دوکان مخ ته ایښی و، کېناستم، دوکاندار داسې ګومان وکړ چې غل یم، راپسې راووت، خو مخکې له دې نه چې شور جوړ کړي، ما خپل کارت وروښود، په ولچر کې ورروان شوم.
سیګرټ یې سیګرټ دانۍ کې وپیچه.
- له وررسېدو سره مې ورته وویل: کولای شم مرسته درسره وکړم؟ ټېر ته ناست کس چې جیک یې برابروه، په غوسه ښکته پورته راته وکتل، په خندا شو، ویل ته به څه مرسته وکړې؟ څه خپله لار دې وهه!

او بېرته په خپل کار لګیا شو.

ما یوه شېبه کې په بې غږه وسله وویشت، په موټر کې ناست کس لا هم نه و خبر چې څه شوي؟ او چې دروازه مې ورخلاصه کړه، نو هلته یو کس ناست و چې سر ته یې کڅوړه وراغوستې او ولچک شوی و، پوی شوم چې ځانمرګی دی، ځکه هماغسې کورتۍ یې اغوستې وه، کومې نښې نښانې چې تا د ورور د کورتۍ ویلې وې. هغه فقط دومره راته وویل چې تازه راخلاص شوی بندي یم!

د قاسم کیسې سخت حیران کړی وم: هغه دې څه کړ؟

ویې خندل: واسکټ مې ترې وویست او محبس ته مې ولېږه!

دې خبرې سره ما چغه کړه: محبس کې خو دې کار ته تیار شوی و، تا بیا ورولېږه!؟

په زنګنو راتکیه شو: یانې ته وایې چې محبس کې یې خپل ژوند خرخ کړی و؟

لږه شېبه غلی او فکر کې شوم.

- زه ځکه داسې وایم چې زما ورور هم محبس کې و او دې ځانمرګي هم درته ویلي چې تازه له محبس نه راخلاص شوی، هلته خامخا کومه کیسه شته، تا باید بېرته محبس ته نه وی لېږلی.

له لږې خاموشۍ وروسته یې وخندل: خو ما داسې محبس ته ولېږه چې بېرته راتګ ترې نه شته!

داده شوم چې وژلی یې دی، هغه په قدم اخیستو شروع وکړه، بیا یې د چایو له ترموز نه ځان ته پیاله ډکه کړه: ما ته هم ستا خبره سمه ښکاري، محبس کې خامخا کومه سوړه شته چې دا خلک ترې راوځي!

ما د هغه د سیګرټو ډبې پسې لاس ورتېر کړ: باید دا سوړه ژر بنده شي!
ډېره شېبه غلی او فکر کې ورک و، بیا یې رامخ کړ: د دې سوړې د بندولو یوه لار شته!
ژر مې وویل: کومه لار؟
شه شېبه یې راته په ځیر، ځیر وکتل.

- ته باید محبس ته لاړ شې!

زما سترګې وازې پاتې شوې: څه...؟ زه محبس ته لاړ شم؟ ټوکې راسره کوې؟

- جدي وایم، بله لار نه شته، که ته نه ځې، نو زه به لاړ شم، چا چې دا تجارت روان کړی، باید معلوم او ختم شي او دا هم باید معلومه کړو چې بهر د هغوی شریکان څوک دي؟

زما په زړه بیا وېره راننوته، ټول وجود مې په لړزه شو: خو زه به په کوم جرم محبس ته ځم؟...

# (۳)

یو عسکر چې قاسم ورته له ما سره په بله د تمانچې ویلي و، زه ونیولم او لاس تړلی یې حوزې ته ننویستم، په امر صیب یې زېری وکړ چې داسې توره یې کړې، د حوزې امر له قده لنډی او غوښن و، ږیره یې خړېلې او ببر برېت یې پرېښي وو، ما ته یې چې راوکتل نو سترګو کې یې غوسه ښکاره شوه.

- ته خبر نه یې چې بې لېسنسه تمانچه ګرځول جرم دی؟ چې له چا سره ونیول شي شپږ میاشتې بند به تېروي؟

ما سر ټيټ کړ چې ځان عاجز وښایم، هغه د زنې لاندې لاس راکېښود: ما ته ګوره!

ورسره سترګو په سترګو شوم.

ویل د چا مرګ پسې روان وې؟ که غلا پسې؟

خو ما هېڅ ځواب ور نه کړ، چوپتیا مې د هغه غوسه لا زیاته کړه: ته چې د کوتک په زور حال و نه وایې، همداسې یې نه وایې.

بیا یې عسکر ته وویل چې نظارت خانې ته مې وسپاري.

بهر عسکر پوی کړم که امر صیب ته څو زره افغانۍ ورکړم، نو خوشې کېږم، خو ما ورته وویل چې یوه افغانۍ هم راسره نه شته او نه یې ورته پیدا کولای شم!

دوه پولیسو رینجر کې کېنولم او نظارت خانې ته یې وسپارلم. هلته له داسې پوښتنو سره مخ شوم چې ما یې تصور هم نه و کړی او قاسم هم راته نه و ویلي چې هلته به له څه سره مخ کېږم؟

څارنوال بیا، بیا همدا ویل چې څو کسه دې وژلي؟ دا ځل د چا وژلو پسې روان وې؟ دا تمانچه دې له کومه کړې؟

او ما هر ځل همدا ځواب ورکاوه چې د پلار مې ده او د هغه له مرگه وروسته ما ته پاتې شوه، له مجبورۍ مې خرڅولو ته روانه کړې وه، خو ونیول شوم.

له څو ورځو تحقیقاتو وروسته محکمې د ناقانونه تمانچې گرځولو په جرم د درې میاشتو بند سزا راواوروله او مرکزي محبس ته یې ولېږلم.

ماښام له تیارې خورېدو سره محبس ته ورسېدو، هلته یو له ونې دنگ عسکر رانه د نوم او جرم پوښتنه وکړه. ما ورته هماغه کیسه وکړه چې نظارت خانې، څارنوالۍ او محکمه کې مې کړې وه. عسکر هېواد نومېده، ږیره او برېت یې ماشین کړي وو، لوړه پوزه، طلایي سترگې او زیړ ویښته یې یو اړخ ته اړولي وو.

د محبس انگړ کې څو ځایه اوږده بلاکونه جوړ شوي وو، د پنځم بلاک تیاره دهلېز ته ننوتو، چت کې زیړ گروپونه لگېدلي وو، خو په اول ځل ورننوتو په کې چا خوا و شا څه نه شو لیدلی. د دهلېز دواړو خواوو ته یو بل پسې اوسپنې بندې دروازې وې او له هرې کوټې راوتي شور په دهلېز کې انگازې کولې.

د دهلېز نیمایي ته چې ورسېدو، عسکر د ښي اړخ دوه ځلوېښتمې کوټې ته ودرېد، زه ډاړه شوم چې درې میاشتې به مې همدا ځای وي، خو هغه بېرته

راشاته شو: دې خلکو سره به درته وخت تېرول سخت وي، راځه یوه بله کوټه کې ځای شته، ښه خلک دي!

د دهلېز اخر کې یو تن پخواني بندي او باشي زموږ هرکلی وکړ او یوه شېبه وروسته زه په دوه شپېتمه کوټه کې وم.

د وړې کوټې د غاړو دېوالونو ته دوه چته اوسپنیز کټونه پراته وو، په یو کې دوه کسه په کومه لوبه لګیا وو، لوبه یې پرېښوده او ما ته ښکته پورته په کتو شول، درېیم کس چې پاس کټ کې پروت و، سیګرټ یې څکول او چت ته په لیدو و، لنډ مخ راواړوه.

له ناستو دواړو په عمر پوخ چې پکول یې پر سر کړی و، رنګی یو لوېشت ږیره کې یې سپین ویښته له تورو زیات وو، راجیګ شو: ستړی مه شې ځوانه!

باشي زه وروپېژندم: دا کامران دی، ستاسې نوی ملګری.

عځبدلي کس کش کړی لوګی راوویست: بس ته ترې نور خلاص اوسه، موږ خپله سره یو بل پېژنو!

راپورته شوي کس له لاس نه ونیولم، سترګو کې یې مهرباني وه، ټولو کې مشر همدا و: راځه دلته کېنه، اولې ورځې هر ځای کې سختې وي وراره!

ناست ملګری یې په خندا شو، عمر به یې له ما لږ زیات و، وچ کلک، په خندا کې مې یې ګډ وډ او زیړ غاښونه ولیدل.

- شیرین ماما رښتیا وایي، ستړی مه شې، زما د ورور نوم هم کامران دی او زما عمران.

بیا یې کټ کې پروت ته لاس ونیو: دا طارق دی، د ښار مشهور غل!

له دې خبرې سره بیا خندا ونیو. ما پروت کس ته سترګې واړولې، هماغسې چت ته په کتو کې ورک و، لکه بېخي چې نه زما له راتګه خبر وي او نه د عمران خندا اوري.

کېناستم، شیرین ماما یو خیرن پلاستیکي ګیلاس کې اوبه راکړې: وڅښه چې دمه دې جوړه شي!

ما لاګیلاس خولې ته نه و وړی چې طارق نومې راکېناست، له څېرې په ټولو کې خطرناک ښکارېده: ځوانه په څه شي یې راوستی یې؟

اوبه مې وڅښلې: چې هر څوک مې ګوري، همدا پوښتنه کوي، خو ما هېڅ جرم نه دی کړی.

عمران نومي راته برند، برند وکتل: نو چې جرم دې نه دی کړی، دلته تبلیغ ته راغلی یې؟

ټول په خندا شول، د پلار د تمانچې جوړه کړې کیسه مې دلته هم وچلېده. شیرین ماما خفه شو، ډاډ یې راکړ، چې درې میاشتې به د سترګو رپ کې تېرې شي.

طارق پرې راغبرګ کړ: شیرین ماما هر څه زر مه منه!

شیرین ماما زما ننګه شروع کړه: ته یې یو ځل دې څېرې ته وګوره، سم سړی له خبرو هم معلومېږي او له څېرې نه هم.

طارق ته مې ورمخ کړ: که جرم مې کړی وی؛ ښکاره مې ویل، له جرم نه انکار خو بل جرم وي.

شیرین ماما موسکی شو: افرین؛ دغسې تکړه شه، طارق خپله څلور کسان وژلي، د یو چا په بې ګناهۍ یې هم باور نه کېږي.

ما چې د څلور کسانو د وژلو خبره واورېده، طارق نه مې وېره زیاته شوه، باید ډېر په احتیاط مې ورسره خبرې کړې وی.

د خندا تمثیل مې وکړ: له شکل نه خو داسې نه ښکاري.

عمران وخندل: زموږ ناکامي همدا ده چې د خلکو په مخونو او خبرو تېروځو. گنې د هر چا په کونه شیطان ننوتی او یوه نه یوه بدي او گناه لري اشنا.

بیا یې شیرین ماما ته گوته ونیوه: ته اول دا شیرین ماما وگوره، فرشته ښکاري، خو د وسلو په قاچاق کې نیول شوی.

شیرین ماما ځمکې ته په کتو شو: له هر انسان نه تېروتنه کېږي، خدای ج دې زما محبس کې دا دوزخي ورځې شپې ژر خلاصې کړي، یو څه هم په دې نه ارزي چې خپله ازادي پرې وبایلو او له کورنۍ لېرې شو.

عمران په خندا شو: شیرین ماما په سخته کې هر سړی توبې وباسي، هغه څنگه شعر دی چې توبه هله له شرابو چې شراب درته پراته وي.

شیرین ماما پرې وربرگ شو: عمرانه هر څه نه ټوکې مه جوړوه.

ما ویل چې اوس سره و نه نښلي، خو هغوی د یو بل ډېرې سختې، سختې خبرې هم زغملې.

عمران نه مې وپوښتل: او تا څه کړي چې دلته پروت یې؟

هغه خوله خبرې ته جوړوله چې شیرین ماما ونیوله: دا یې ښار کې ښځو ته په گوتو ورکولو نیولی.

له دې خبرې سره زما او د ټولو خندا غبرگه شوه!

عمران له مونږ نه ډېر خندل: ټوکې کوي، زما مې د تره له زامنو سره په ځمکه لانجه وه، محکمه کې یې پیسې تېرې کړې، هغوی بې گناه شوو او زه دا دی دلته پروت یم.

طارق راغبر کړ: او چې څنگه ازاد شو په ذمه واری سره درته وایم چې په دویمه ورځ به یا بېرته محبس ته راځي او یا به هدیرې ته ځي، ځکه چې دا هره ورځ د غچ اخېستو قسمونه کوي.



Scanned with CamScanner

د هغوی مجلس زما وېره لږه کمه کړه، د پردیتوب احساس مې په ختمېدو شو، ټول مې پېژندلي وو او پوی شوم چې په کوم، کوم جرم راغلي؟ ولږې ببخي ناقراره کړی وم، له سهاره په نهاره وم. شیرین ماما پوی شو، ویل ډوډی ناوخته راځي؛ اول مو ښه په ولږه وهي.

خبره یې رښتیا وه، کله چې ډوډی راغله او یوه مړی مې خولې ته کړه، بلې ته مې لاس نه کړ.

عمران په خندا شو: دا کور نه دی اشنا؛ وخوره چې وروسته به د دې ارمان کوې.

بې مالګې ترخې وریجې، اوبه یې نه وې وچې شوې او لنده دا چې شوروا یې په کې کړې وه. حیران دې ته وم چې هغوی ښه په خوند خوړه، ما وچه ډوډی له چایو سره وخوړه او په بې توشکه ځنګېدلي کټ کې څملاستم، شیرین ماما دسترخوان ټول کړ او په لمانځه ودرېد، طارق او عمران سره کومه لوبه شروع کړه، ما غوښتل ویده شم، خو ډار، اندېښنو او بې ځایه فکرونو خوب ته نه پرېښودم.

دا چې زه چا پسې راغلی یم؟ د محبس په مامورینو کې دی؟ که بندیانو کې؟ که په بندیانو کې وي، څنګه به یې پېژنم؟ څنګه به یې وژنم؟........قاسم راته ویلي و هر څه تا پورې اړه لري چې دا د مرګ سوړه څنګه پیدا کوې؟ او څنګه یې ختموې؟

شیرین ماما له لمانځه وروسته راته خپل څادر راکړ چې پر ځان یې واچوم او عمران ته یې وویل چې ته دې له دوه توشکونو یو ورکړه. ما له طارق نه سیګرټ وغوښته، موسکی شو: نصیب دې خراب دی یاره؛ مخکې به دې غږ کړی وی کنه، وروستی سیګرټ مې ستا د راتګ وخت کې خلاص کړ!

- زما ورته ډېر زړه شوی، پیدا به نه شي؟



Scanned with CamScanner

شیرین ماما ځان ته له سوړ او سور شوي چایو نه پیاله ډکه کړه: هر څه پیدا کیږي وراره، خو چې پیسې درسره وي. هغه څنګه متل دی چې پیسو سالنګ سوری کړی!

عمران د نصوارو پاکټ راته ونیو: واخله یوه چونډۍ کېږده، د سیګرټ خمار به دې پرې مات شي اشنا.

- دا مې زړه بدوي!

راغځولی لاس یې ټول کړ: ما هم اول سیګرټ څکول، خو دلته ګران دي، له مجبورۍ مې دا شروع کړل.

طارق بالښت ته تکیه شو: پاچا هم قرض بند کړی، ګنې ما به درته راغوښتی وی!

ژر مې ترې وپوښتل: ډبې په څو ورکوي؟

- دوه سوه.

دا له بهر نه څلور چنده زیات قیمت و.

په ټولو مې سترګې وګرځولې: که پاچا قرض بند کړی، له تاسې نه یې یو راسره وکړئ.

عمران په خندا شو: ده خو له راتګ سره شروع وکړه.

شیرین ماما د واسکټ له جېب نه دوه سوه افغانۍ راوویستې: زه به یې درکړم، خو کاش چې په سیګرټو دې نه ورکولی.

عمران دستي ښي اړخ ته دېوال څو ځل وډباوه.

حیران وم چې دا څنګه کیسه ده؟ پاچا څوک دی؟ په دې شپه سیګرټ له کوم ځای نه راوړي؟...

خو زما فکر له هغې خوا د دېوال راډبېدو ختم کړ.

عمران بیا په ډبولو ځواب ورکړ او نور راشاته شو: اوس یې راوړي.

هغه له ما نه د سیګرټو راتګ ته ډېر خوشاله ښکارېده. له ډېر انتظار وروسته دروازه کې وړه کړکۍ راخلاصه شوه، عمران کوټې ته د رانوتي لاس ورغوي کې پیسې کېښودې او د سیګرټو ډبې یې راواخېست. اول یې ترې ځان ته بل کړ او بیا یې پر موږ ووېشل، شیرین ماما کلک شو، خو طارق او عمران مجبور کړ چې زما د راتګ هر کلی به په سیګرټ څکولو کوي.

د عمران، شیرین ماما او طارق ټوکو، کیسو او په یو بل ډزو مجلس ګرم کړی و، شیرین ماما خپله ټوکې نه کولې خو د هغوی یوه ټوکه یې هم بې خندا نه پرېښوده...

شیرین ماما چې هسې زما لپاره سیګرټ بل کړی و، هغه یې د پیالې پاتې شوني چایو کې واچوه: ویده به شوو چې ناوخته دی.

بیا یې په دې پوی کړم چې څه وخت تشناب ته تلی شو؟ څه وخت انګړ ته وتلی شو؟ څه وخت د دهلېز دروازه بندېږي؟ او څه وخت موږ پسې د کوټې؟...

په خپل ځای وغځېدم، سترګې مې پټې کړې، خو ذهن مې اندېښنو او پوښتنو وېښ ساتلی و...

***

شیرین ماما له خوب نه راجیګ کړم، چې بهر ووځم او پام مې بدل شي، هره ورځ د دهلېزونو د شمېر په نوبت، بندیان د یو ساعت لپاره انګړ کې پیتاوي او قدم وهلو ته وتلی شول، د محبس په لوی انګړ کې څو د پیپل غټې ونې ولاړې وې، یو اړخ ته د والیبال وړوکی میدان جوړ شوی و، څه بندیان په لوبه لګیا ول، چا په ولاړه مجلس روان کړی و، څوک په چوترو ناست وو، شیرین ماما له یو کس سره په خبرو شو، چې د هر چا راپام کېده، په رډو، رډو یې راکتل، خامخا به یې همدا فکر کاوه چې په کومه ګناه راغلی یم؟ یو ځای

ګڼه ګوڼه کمه وه، په سیمنټي چوکۍ چې د تکیې ځای یې نیم نه و، له ازادۍ نه د محرومو انسانانو ژوند ته په فکر کې ورک ناست وم چې ناڅاپه چا په اوږه لاس راکېښود: لکه چې نوې سورلي یې؟

یو غټ سری، غوښن، ګوړګوتي ویښتو والا مې څنګ ته کېناست، زما یې په غاړه د مار شنې چاپې ته سترګې واوښتې، سترګې او څېره یې رابانديې ښه و نه لګېده: خیر و؟

له ملنډو ډکه موسکا یې وکړه: خیر خیریت دی بچه حاله، د محبس موټر ته کله راختلی یې؟

سیګرټ مې بل کړ: بېګا یې راوړی یم!

بې اجازې یې زما له سیګرټو ځان ته هم بل کړ: په څه شي کې یې راوړی یې؟

- بې ګناه یم!

په کړس یې وخندل: دلته یو هم خپله ګناه نه مني!

ځواب مې ور نه کړ، د والیبال د لوبې په سیل شوم.

هغه کش کړی لوګی په ما راخوشې کړ.

- څو کاله بند یې درکړی؟

ورته موسکی شوم: نو دومره غټ مجرم درته ښکارم؟ لومړی محکمې درې میاشتې راکړی!

په خندا کې یې په اوږه وټپولم: بیا نو څه شي ته زړه خورې، درې میاشتې خو داسې تېرېږي لکه درې ورځې، مزې کوه، مزې!

ځان مې نا خبره وښود: مزې نو محبس کې له کومه شوې؟

غږ یې ټیټ کړ: چې څه شی دې زړه غواړي، په ورور دې امر کوه!

بیا یې د کورتۍ جېب ته ننویستی موټې کړی لاس راوویست او ما ته یې ونیو: ونیسه؛ زه به دربانديې لږه مهرباني وکړم، چې له زړه خوراک نه خلاص او پام دې بدل شي، خو دعا به راته کوې چې د اختر بخشش کې مې یو کال دوه بند کم شي!

ما ویل چې څه شی به راکوي؟ چې موټې یې لاس کې راتش کړ، نو د نخود دانې هومره چرس و، ژر مې ترې لاس شاته کړ.

- واخله؛ دلته چا ته رسي نه، ته پرې کبر کوې!

- زه چرسي نه یم!

ویل تابلیت به درکړم، خو ما پرې سترګې برګې کړې چې نه مې ده په کار!

جیګ شو: بس چې هر څه پکارېدل، فقط غږ کوه!

داسې مې وانګیرله چې دلته ډېرې غټې، خرابې او پټې کیسې روانې دي، د دې کس له هر څه نه مطلب څه و؟ هغه پسې مې سترګې وګرځولې، د څلورم بلاک په دروازه کې له یو چا سره ولاړ او په خبرو و، شیرین ماما له لېرې راته لاس وښوراوه چې ورشم، ما هم د لاس په اشاره ډاډ ورکړ چې همدلته ښه یم، د والیبال لوبه کې یو ټیم د خوشالۍ چغې شروع کړې، هېڅ داسې نه ښکارېده چې دوی دې بندیان وي، یا به یې ځان عادت کړی و، د چا له زړه نو څوک کله خبر دي چې څه پرې تېرېږي؟

دا وخت راته یو کس مخامخ د توت ونې ته تکیه کړی ودرېد، ورسره سترګو په سترګو شوم، داسې یې راکتل لکه پوروړی یې چې یم، ما هم ورکتل، راروان شو، اراده یې راته ښه ښکاره نه شوه، له رارسېدو سره یې ګرېوان نه ونیولم: څه شي ته راګورې؟

حیران شوم چې دا په څه لېوني واوښتم؟

- خو تا راکتل کنه!

هغه د دې پر ځای چې گرېوان مې پرېږدي، لا يې کلک او څو جټکې راکړې: ته ما پېژنې؟ سترگې دې وباسم...

د هغه غوسې نږدې زما حوصله ختمه کړې وه، خو همدا وخت شيرين ماما ځان راورساوه: بلبله دا نوی راغلی، بيا به داسې نه کوي!

شيرين ماما ته مې مخ کړ چې ما هېڅ نه دي کړي.

خو هغه سترگو کې پوی کړم چې خوله بنده کړه، بلبل نومی لا هم په غوسه و، بنديانو تش راکتل...

شيرين ماما لاس نيولی ځان پسې کړم: له دې خلکو لرې اوسه، ځان ته غم مه جوړوه!

زه لا هم حيران وم چې له دې کار نه د بلبل هدف څه و؟ په همدې فکرونو کې کوټې ته لاړم او په خپل ځای وغځېدم، پوی شوم چې دلته نوي او کمزوري بندي ته وخت تېرول اسانه نه دي، که ته له چا سره کار نه لرې، نو خلک له تا سره کار لري!

ماښام چې عمران او طارق ته شيرين ماما له ما سره د بلبل د لانجې کيسه وکړه، نو طارق په اوږه لاس راکېښود: شکر وباسه چې شيرين ماما په وخت درغلی، که لاس دې ورسره اچولی وی، نو اوس به دې کوټه کې نه وی!

حيران شوم: نو چرته به وی؟

عمران د شيرين ماما له نصوارو چونډۍ کېښوده: تور رېنگ ته يې وړلې او هلته چې څوک تللي بيا يې ښه ورځ نه ده ليدلې، ټول نشه يان، بدماشان او لوی گناهگاران هملته دي!

شيرين ماما پښې وغځولې: بلبل همدا غوښتل چې ته ورسره ونښلې او تور رېنگ ته لاړ شې.

ما شيرين ماما ته مخ کړ: دا بلبل څه کاره دی؟



Scanned with CamScanner

- هغه د تیمور کس دی!
- تیمور په کې لا څوک شو؟

طارق سیګرټ بل کړ: د بندیانو په سر عذاب دی، پیسې ورکوه، هر کار چې ښایې او هر څه چې غواړې، هغه درته کوي او درته یې رسوي، په ذمه واری!
داسې مې وګڼله چې هغه کوم عسکر یا د محبس مدیر دی، خو کله مې چې دا خبره وکړه، عمران وخندل: هغه نه عسکر دی، نه مدیر دی، موږ غوندې بندي دی، خو عسکر او مدیر داسې نڅوي لکه ډمې!
عجیبه وه، یو بندي څنګه دومره زورور کېدای شي؟ د هغوی خبرو راته نورې پوښتنې پیدا کړې، ومې خندل: زما خو باور نه شي، لکه چې ټوکه کوئ!
طارق سیګرټ د دېوال غاړې ته وپیچه: ستا لا عمر خام دی بچو، د پیسو زور دې نه دی لیدلی، دلته به په ډېرو شیانو پوی شې!
شیرین ماما نصوار له دروازې سره نږدې ګوزار کړل: زما خو دلته اتم کال دی، مخکې محبس کې دومره ګډوډي او خرابي نه وه، له څه وخته چې تیمور راغلی، دا کیسې شروع شوي!
د تیمور په اړه مې اندېښنه زیاته شوه، غوښتل مې پوی شم چې څوک او څه کاره دی؟

- له دې سړي نه خو مو زه وډار کړم؟ دا څوک دی چې دومره زورور دی؟

عمران سر راکوږ کړ: شیرین ماما یې له موږ نه ښه پېژني، همدا به یې درته معرفي کړي!
شیرین ماما غاړه تازه کړه: ما یې نوم ډېر پخوا اورېدلی و، خو اول ځل مې درې کاله مخکې چې دې محبس ته راغی، ولیده، هېڅ باور مې نه کېده چې په دومره وړوکي ځان دې دومره لوی کارونه کوي، ته خپله فکر وکړه چې یو

سړی ځان په درېیم کال د محبس د دیارلس نیم سوه بندیانو مشرۍ ته رسوي، دا به څنګه سړی وي؟ لسګونه لوی بدماشان او عمري بندیان دلته پراته دي، خو یو یې هم مخ ته نه شي درېدای او خپل رقیبان یې هم شریکوانان جوړ کړي، د هغه خوښه ده چې څوک باشي شي؟ څوک دوکاندار شي؟ څوک تور رېنګ ته لاړ شي؟...

شیرین ماما د اوبو ګیلاس پسې لاس وروغځوه.

- د بلبل غوندې د ډېرو نورو لوچکانو او بدماشانو له هغه سره ملګرتیا کې ګټه ده، جېب یې هم ډکېږي او سرې سترګې هم ګرځي، هغوی تا غوندې نویو بندیانو ته وړیا نشه ایي توکي رسوي، کله چې دې پرې روږدي کړي، بیا مجبور یې په هغه بیه یې واخلې چې د هغوی خوښه وي. ډېر بې عمله خلک دلته عملیان شول، ډېر خلک په وړو جرمونو بندیان شول، لوی جرمونه یې زده کړل او لا بې لارې شول.

عمران په اوږه وټپولم: نو د چا مفته چرسو او تابلیتو ته خوشاله نه شې.

اوس پوی شوم، بلبل هماغه کس رالېږلی و چې ما یې د چرسو ډالۍ قبوله نه کړه، ګنې لېونی خو نه و چې هېڅ بې هېڅه یې راته بهانه جوړوله او دا چې ولې یې مفته چرس او تابلیټ راکول؟ په دې مې هم سر خلاص شو...

شیرین ماما د اوبو ګیلاس کېښود: داسې نه ده چې محبس کې یوازې بدی او بې لارې دي، چې ته وغواړې ښېګڼې هم په کې شته، دلته خلکو قران کریمونه په یادو زده کړل، کسبونه یې زده کړل، له عملونو یې ځانونه خلاص کړل...

ما سیګرټ بل کړ: شیرین ماما زه خو دا یو سیګرټ وهم، خواري کوم چې له دې نه مې هم خدای ج خلاص کړي.

خوشاله شو: افرین، چې خواري وکړې، خامخا ترې خلاصېږې له خیره.



Scanned with CamScanner

زما تادي وه چې اوس ژر تیمور راوپېژني: شیرین ماما د تیمور کیسه دې پرېښوده.

هغه زاړه بالښت ته ورتکیه شو: تیمور یې خپل نوم نه دی، اصلي نوم یې باطن دی، خو وروسته په تیمور مشهور شو، پلار یې ډېر ښه سړی تېر شوی، بس د خدای ج کارونه دي، له ښه پلار نه بد زوی پیدا شي، له ډېر وړوکوالي یې بې لارۍ ته مخه شوې وه، لا زلمی شوی نه و چې د کلي د ملک لور ته یې د گودر په لاره لاس اچولی و او کلی کور یې پرېښود. پېښور کې که دې د باړې نوم اورېدلی وي، هلته یې ماما گان اوسېدل، هغوی کره تللی و، یو ماما یې میری نومېده، بدماش او ډاکو و، تیمور له هماغه نه روزنه واخېسته، په مخ د ځمکې هېڅ داسې جرم نه شته چې هغه یې یا کولای نه شي، یا یې کړی نه وي. هملته باړه کې یې ژر نوم مشهور شو، لومړی یې نور واړه او لوی بدماشان څه ووژل او څه یې د ځان ملگري کړل، بیا یې له شتمنو د قلنگ اخېستو، اجرتي وژنو او نشه ایي توکو قاچاق ته مخه کړه...

طارق یې خبرو کې راټوپ کړ: شیرین ماما سردار یې رښتیا له هماغه وخت نه ملگری دی؟

شیرین ماما لږ غلی و: اول خو خلکو ویل چې د ماما زوی یې دی، ځکه ورته داسې گران او هر څه یې ورسپارلي، حقیقت ما ته هم معلوم نه دی، خو یو ځای نیول شوي.

عمران د کټ اوسپني بازو ته تکیه شو: شیرین ماما هغه د پاکستاني پولیسانو د وژلو کیسه یې ورته وکړه.

شیرین ماما ځان ته په شوق د چونډۍ جوړول شروع کړل: هغه یو افغان مهاجر په څه جرم بندي شوی و او هلته ورته تانېدار ویلي و چې لور دې یوې شپې ته راوله، نو خوشې کوم دې، دا خبره چې تیمور ته رسېدلې وه، نو په

تانه یې برید کړی و، تانېدار او دوه خاصدار یې وژلي وو، له هغې نه وروسته ورته باړه کې شپې، ورځې سختې شوې، له څو چاپو نه ژوندی ووت، حکومت د هغه د نیولو امر کړی و، له خپل یو ملگري سره چې خلک وایي همدا سردار و، د تیراه په غرونو راواوښت او پاکستان ته یې د قاچاقو کار شروع کړ.

عمران پکې راغږ کړ: یو څل مخکې هم نیول شوی و، د ولایت محبس کې بندي و، خو په دویم کال یې په تونل له ځان سره یو نیم سل نور بندیان هم وویستل.

ما ژر وویل: بیا څنگه ونیول شو؟

شیرین ماما یوه پښه ټوله کړه.

- د یو ناڅوانه ملگري سره مېلمه شوی و، هغه پرې ونیوه، حکومت خو یې په نیولو غټ انعام ایښی و، خو چا چې په حکومت نیولی و، هغه هم د ده په سر اخېستې پیسې و نه خوړې، په څلورمه ورځ د تیمور ملگرو وژلی و.

اول خو خلکو ویل چې محکمه به ورته د اعدام سزا ورکړي، خو اوس ورته د ټول عمر بند سزا ورکړل شوې.

شیرین ماما غلی شو، ما وپوښتل: نو داسې مجرم ته دلته مشري چا ورکړه؟

طارق وخندل: مشري چا ورکړې نه ده، اخېستې یې ده. زور بالای زور است لالا.

شیرین ماما سترگې ومښلې، لکه چې خوب ورغلی و: کله چې تیمور دې محبس ته راغی، نو هغه وخت د محبس بدماشي او تجارت د میرداد لاس کې وو، هغه دې خدای ج وبښي، هر څه یې کول خو دومره سخت زړی او بې رحمه نه و لکه تیمور چې دی، هغه هم چرس او پوډر خرڅول، خو خلک

بې پرې نه روږدي کول، د چا به چې په کار شول، هغوی ته یې پیدا کول.
لکه اوس غوندې هغه هم محبس ته معلومې ښځې بندیانو ته راوستې، وسله بې درته پیدا کوله، خو څوک یې نه وژل.
طارق سیګرټ بل کړ: څکه خو خپله ووژل شو.
ما ورمخ کړ: ووژل شو؟
پر ځای یې عمران ځواب راکړ: د شپې چا بالښت په خوله ورایښی و!
طارق کش کړی لوګی راوویست: دا کار سردار کړی و.
- نو سردار ورسره یوه کوټه کې و؟
شیرین ماما وخندل: یوه کوټه کې ورسره نه و او هغه ډېر احتیاط هم کاوه، په کوټه کې ورسره هېڅ څوک نه وو، دروازه هم بنده وه، خو پیسو سالنګ سوری کړی، بندې دروازې هم خلاصوي، ټولو خلکو ته داسې ښکارېدل چې میرداد په خپل مرګ مړ شوی او ډاکټر یې هم لامل د زړه حمله وښوده، خو حقیقت کې هغه تیمور وژلی و. له هغې وروسته د محبس تجارت او مشري ورپاتې ده.
بیا یې طارق او عمران ته وکتل: بل ځای ګوره دا خبرې و نه کړې، موږ خو درته د دې لپاره دا هر څه وویل چې اوس مو د کوټې ملګری یې او خدای ج مه کړه بلې بې لارې ته دې مخه نه شي.
عمران هم رانېغ شو: د کوټې خبرې به اشنا له کوټې نه وباسې!
ما ډاډ ورکړ چې داسې څوک نه یم، بې غمه اوسئ!
نور مې څه و نه ویل، ټول پر خپلو ځایونو پرېوتو او هر یو د خپل فکر نړۍ کې ورک شوو، داسې راته ښکاره شوه چې چا پسې راغلی یم، هغه لکه چې همدا تیمور دی!

***



Scanned with CamScanner

دوشنبه د پیوازانو د راتګ ورځ وه، اونۍ کې یوازې یوه ورځ خلک د بندیانو لیدو ته راتلی شول، شیرین ماما د سهار له لمانځه وروسته د برېتو په جوړولو خواري وکړه، بیا یې ویښته رږمنځ کړل، پوی شوم چې څوک یې لیدو ته راځي، عمران هم پر ځان ګوتې وهلې، د هغوی له وتو ښه شېبه وروسته زه هم ورووتم، انګړ کې ځای، ځای پر جوړو شویو چوترو پلاستیکي درۍ ګانې خورې وې، خلک شېبه په شېبه رازیاتېدل، څه شېبه له شیرین ماما سره ناست وم، هغه له څو نورو بندیانو سره معرفي کړم، بیا یې زوی او اوښی راغلل، چې له هغوی سره په خبرو شو نو زه یو اړخ ته په ځمکه د خور بازار سیل ته ورغلم چې د بندیانو په لاس جوړ شوي شیان په کې خرڅېدل. تسبې، له مشکنو جوړې غاړه کۍ، لاس بندونه، موټرګي، قلمونه.........

د بندیانو په لاس د جوړو شویو شیانو له سیل نه وروسته مې زړه تنګ شو، بېرته کوټې ته روان شوم، د دهلېز دروازه کې مې مخ ته یو کس ودرېد: چرته له خیره؟

هغه پیوازانو ته درېدلی و چې دننه لاړ نه شي، ما ورته وویل چې زه بندي یم، د کوټې د نمبر له پوښتنې وروسته یې د کوټې د ملګرو نومونه هم رانه وپوښتل او بیا یې اجازه راکړه. د دهلېز نیمایي ته رسېدلی نه وم چې له دوه څلوېښتمې کوټې نه یو وچکی سړی راووت او د بهر وتلو پر ځای دهلېز کې مخکې روان شو، یو لاس کې یې تورې کڅوړې ټالی خوړې، د عسکر خبره رایاده شوه چې دوه څلوېښتمه کوټه کې به راته وخت سخت وي، هاغه کس بې له دې چې ما ته وګوري، یو پنځوسم نمبر کوټې ته ننوت، زما یې لاس کې نیولې کڅوړې ته اندېښنه شوه، فکر مې کاوه چې دا وچکی سړی هم د تیمور له ملګرو دی. له همدې شک سره یوپنځوسمې کوټې ته ورتاو شوم، غوښتل



Scanned with CamScanner

مې پوی شم چې هلته څه کیسه ده؟ د وېرې یو عجیب حالت و، بې له دې چې دروازه وټکوم، په کوټه ورننوتم: شیرین ماما دلته دی؟

هلته درې کسه وو، محبس ته د راغلو خوراکي توکو له ګنډو او کڅوړو نه یې د تابلیټو، چرسو او شیشې واړه پلاستیکونه راویستل، یو دستي د غاړې دستمال په پلاستیکونو خور کړ، هماغه چې کڅوړه یې رانویستې وه، راجیګ شو: شیرین ماما دې په..... واچوم، بې اجازې څنګه راننوتې؟

زما ژبه ونښته هغه ستوني کې ونیولم او په دروازه یې په درز ووهلم، همدا شېبه کټ کې ناست کس راجیګ شو: خوشې یې کړه سرداره!

ښه نو سردار دا و؟ هغه زما ستونی پرېښود، خوله مې وچه شوې وه، په خپل لاس مې ځان مرګ ته ورکړی و. له کټ نه د راجیګ شوي کس نیم سر ګنجی شوی و، له قهرېدلو سترګو یې تورې حلقې تاوې او په مخ یې څو ځایه د زخمونو نښې وې، رانږدې شو: ته دننه چا راپرېښی یې؟

ساه مې سمه کړه: زه د دوه شپېتمې کوټې بندي یم، شیرین ماما مې په کار و، انګړ کې راته چا وویل چې دې کوټه کې ناست دی!

سردار نومي دا ځل له ګرېوان نه ونیولم: تیموره ما ته د دې هلک کونه کې څه فساد ښکاري.

د تیمور د نوم په اورېدو مې ساه ډوبه شوه، زه خپل هدف ته تصادفي رسېدلی وم او په دغسې وخت کې انسان نه پوهېږي چې څه وکړي؟ که ما دلته ناڅاپي پرېکړه عملي کولای، هدیرې ته یې لېږلم، زه نه کوم ورزشکار وم، نه مې له هغوی سره زور سم و او د هغوی له څېرو بې رحمي بادېده.

تیمور راته ښکته پورته لکه د سوداګر په ژور نظر وکتل، بیا یې سترګې په سترګو کې راواچولې: هادي دې څه کېږي؟

له دې خبرې سره زما عاجزي منډې کړې، سپینې مې وتښتېدې، زما او د هادي خبره ورته نه وه، خو تیمور هغه ته زما د سترګو ورته والي شکمن کړی و، د دې لپاره چې شک یې په یقین بدل نه شي، ژر مې وویل.

- کوم هادي؟ یو خو زما تروړزی دی، تېر کال جرمني ته لاړ.

هغه بله پوښتنه و نه کړه، لاړ کټ کې کېناست، یوه پښه یې پر بله واړوله، دریېم ړیره خرېلي، پوچ سترګي لاس کې نیولی پنځه تقه چاقو په تشي راکېښود: وځه او دا پېښه دې له ذهن نه وباسه ګنې په خپل کټ کې دې مړی درغوځوم.

ژر راووتم، زړه مې درزېده، د کوټې پر ځای انګړ ته په منډه شوم، له وېرې سره مل مې دا خوښي هم حس کوله چې ما تیمور پېژندلی و او نور پوی شوی وم چې زه چا پسې راغلی یم؟

***

ماښام چې موږ کوټه کې ناست وو، هغوی درې واړه ځکه خوشاله وو چې د کورنۍ له غړو سره یې لیدل شوي وو، شیرین ماما رامخ کړ: کامرانه ستا لیدو ته څوک نه و راغلي؟

ما له دې پوښتنې سره د مخ کېدو په اړه فکر نه و کړي، طارق له کټ نه راغږ کړ: شیرین ماما ده خو تر اوسه د ځان په اړه هېڅ نه دي ویلي چې څوک لري که نه؟

سیګرټ مې بل کړ: کورنۍ مې خبره هم نه ده چې زه بندي شوی یم، همدې ته زړه خورم چې هغوی به راته څومره اندېښمن وي او چرته به مې لټوي؟

طارق اوږده ساه واخېسته: زه هم چې بندي شوی وم، کورنۍ مې نه وه خبره، زنګ ووهه او خبر یې کړه.

ومې ویل: یو ورور مې ترکیه کې مسافر دی، دوه خویندې او مور مې له ماما
کره اوسي، نمبر یې هم نه لرم.

عمران رامخ کړ: نو د کوم بل خپلوان او ملګري نمبر خو به درسره وي.

- د یو تروروزي نمبر مې زده دی، خو په څه شي ورته زنګ ووهم؟

شیرین ماما دستي جیګ شو: مخکې به دې ویلی وی کنه، ته لږ صبر چې زه
درته اوس د تلیفون غم وخورم...

بیا یې پر دېوال د ځړېدلي واسکټ له جیب نه وړوکی تور تلیفون رااوویست:
ماښام مې له پاچا نه راوړ، زوی مې راته ویل چې واده شوې لور مې سخته
ناروغه ده، ما ویل پوښتنه به یې وکړم.

بیا یې تلیفون ما ته ونیو: واخله؛ اول دې ته کور ته خبر ورکړه!

تلیفون مې ترې واخیست، د قاسم شمېره مې ووهله، دویم زنګ یې اوچت
کړ، چې څنګه یې سلام وکړ، ما ژر وویل: تروروزیه ښه یې؟ کامران یم.

هغه وخندل: دا چرته ورک یې والکه؟ د چا له نمبر نه دې زنګ راوهلی؟ مور
درپسې ټول ځایونه وکتل.

هغه ته مې لنډ وویل چې بندي شوی یم او مور او خویندې مې خبرې کړه.
ډایل کړې شمېره مې ډیلیټ کړه او تلیفون مې بېرته شیرین ماما ته وسپاره، نور
خپل ځای کې وغځېدم، تر ډېر وخته د نننی پېښې، تیمور، د هغه د کسانو او
کارونو په اړه فکرونو کې ورک وم او بیا مې سترګې پټې شوې وې...

***

زما د کار لومړی برخه خلاصه شوې وه، هغه خلک چې زه ورپسې راغلی وم،
اوس مې پېژندل، خو د کار دویمه برخه سخته وه چې د هغوی ختمول وو، نه
پوهېدم چې څنګه او له کوم ځای نه شروع کړم؟ څه فلم نه و چې چاقو مې
رااخیستی او په تیمور مې حمله کړې وی، په داسې خام کار خو ما خپل ژوند

له خطر سره مخ کاوه او دا لوبه په ناکامۍ پای ته رسېده، ورځې اوښتې او زما اندېښنه زیاتېده، د مخکې تگ لپاره مې هېڅ لار نه شوه پیداکولای...

یو ماښام عمران د گاونډیانو له کوټې نه منقل او دېگ راوړ، غوښتل یې خپل دېگ وکړي، شیرین ماما او طارق یې د اشپزۍ صفتونه کول، د هغوی ټوکو او کیسو ته غوږ وم چې دهلېز کې چغې شوې.... موږ ټول یوه شېبه غلي او حیران شوو چې څه خبره ده؟

طارق وویل: د بلال غږ دی.

ما بلال نه پېژنده چې څوک دی؟

شیرین ماما نصوار واچول: لکه چې چا سره یې جنگ دی!

طارق ځواب ورکړ: سردار او ملگرو یې رانیولی!

ما ژر وویل: ولې؟ څه گناه یې کړې؟

د طارق پر ځای عمران لگیا شو: دا گناه یې کړې چې له تیمور نه یې ځان قرضدار کړی، زه خو درته هسې نه وایم چې قرض دربانديې نه وي، باچا یې باچا.

شیرین ماما دېگ په منقل کېښود: د خوار درې ورځې خلاصېدو ته پاتې دي، خو چې پور خلاص نه کړي، څنگه به وځي؟

زما لا هم سر نه و خلاص شوی: نو خلک ولې دومره پور کوي چې بیا یې خلاصولی نه شي؟

طارق چې بالښت ته ډډه وهلې وه، رانېغ شو: نیمایي محبس همدا اوس د تیمور پوروړی دی او د تابلیټو، چرسو او شیشې والا خو یې دومره پوروړي کړي چې بلال غوندې یې یو هم نه شي خلاصولی.

لږه شېبه حیران وم، بیا مې وپوښتل: نو دا نور بندیان ولې له تیمور نه شکایت نه کوي؟

په دې خبره طارق په کړس، کړس وخندل: ما خو درته په اوله شپه ویلي و چې ستا عمر لا خام دی بچو او د پیسو زور دې نه دی لیدلی، شکایت چا ته کوې؟ د تیمور په گټه کې عسکرو ته هم برخه رسي او د محبس مدیر ته هم!
ما بله پوښتنه و نه کړه، د بلال په اړه مې فکرونه شروع کړل، باید په دې پوی شوی وی چې تیمور له هغه نه څه غواړي؟ ځکه دا خو ښکاره شوې وه چې پور یې خلاصولی نه شي...
سهار د دروازې له ټک ټک سره راویښ شوم، چې لمانځه ته پاڅو، شیرین ماما جیگ شو، زه هم ورپسې شوم او یو ځای ورسره ووتم، دا اول ځل و چې د سهار جمعې ته وتم، د پیپل ونو کې د مرغانو شور په زیاتېدو و، له اوبو ډکې لوټې ایښې وې، څوک یو ځای څوک بل ځای اودسونو ته ناست ول، د یو واړه بوټي بېخ ته کېناستم چې اودس وکړم، په لویه چوتره جمعه ودرېده، دویم کتار کې مې ځای پیدا کړ...چې چپ اړخ ته مې سلام وگرځاوه نو په درېیم کس مې سترگې ولگېدې چې یوه سترگه یې شنه شوې او ډډه ولاړه وه، خلك په دعا شول خو ما هغه ته کتل، دواړه لاسونه یې دعا ته لپه کړي وو، سترگې یې پټې او شونډې یې رپېدې، د مخ پوستکی یې زیږ او له وخته مخکې غونج شوی و، داسې ښکارېده چې خپله بلال دی.
زما او د بلال تر منځ ناست کسان د دعا له ختمېدو مخکې جیگ شول، زه په کراره ورلنډ شوم، لا هم په دعا و، له دعا یې ښکارېده چې لویه ستونزه کې بند دی. غوږ ته مې سر ورکوږ کړ: دعا دې قبوله شوه!
په حیرانۍ یې ډنډ سترگې راته ونیوې، بیا جیگ شو، ملا سره څنگ ته په لرگینه تخته قران شریفونه ایښي وو، یو یې راواخېست او بېرته خپل ځای ته راغی، په کرار یې وویل: ته څوک یې؟
- زه خدای ستا مرستې ته رالېږلی یم.

له مور نه مخکې کس شاته راوکتل، زه هم جیګ شوم، یو قران شریف مې راواخېست او بیا ورسره څنګ ته کېناستم، سر مې داسې ښوروللو چې ګنې تلاوت کوم: که ته ما ته یوه خبره وکړې، نو زه درسره مرسته کوم.

هغه سترګې راکږې کړې: د څه شي خبره؟

د دې لپاره چې د چا شک نه شي، د تلاوت غږ مې جیګ کړ، بیا مې ورته په ټیټ غږ وویل: تیمور له تا نه د پور بدل کې څه غواړي؟

غلې و، زه یې ځواب ته انتظار وم، په څنګل مې وواهه چې ووایه!

خو بیا یې هم هیڅ غږ و نه کړ، داسې راته ښکاره شوه چې کس مې غلط کړی.

- سمه ده، مه یې وایه، ما غوښتل چې مرسته درسره وکړم، خو ستا مرسته نه ده په کار.

زما بې پروايي ښودلو، کار وکړ.

ژړغونی شو: تیمور وايي یا پور خلاص کړه او یا زما خبره ومنه، ګنې وژنم دې!

- د څه شي خبره؟

شونډه یې په غاښونو وچیچله: د ځان وژنې!

له دې خبرې سره زما په ټوله کیسه سر خلاص شو، دا چې زما ورور چا ځانمرګي ته راضي کړی و؟ تیمور ولې خلک معتاد او پوروړي کول؟ او وروستي ځانمرګي ولې ټول له محبس نه ازاد شوي بندیان وو؟... په ورون مې لاس ورکېښود: شرط ورسره ومنه!

وازې سترګې یې راته ونیوې: زه درته لېونی ښکارم؟

- خو تا وویل که خبره یې و نه منې، بیا دې هم وژني!

- خو تا ویل چې مرسته درسره کوم!

- زه په خپله خبره ولاړ یم، خو ته اوس ځان له محبس نه د هغه د شرط په منلو ژوندی وباسه!

- خو که ژوندی ووځم، بیا به هم په لسمه ورځ په خپلو پښو مرګ ته ځم او که لاړ نه شم، خپل کور کې مې وژني، له دوی نه یو ځای کې هم پټېدای او خلاصېدای نه شم!

خوا و شا مې نظر وګرځاوه.

- ستا پر ځای زه مرګ ته ځم!

د هغه حیراني زیاته شوه، باور یې نه کېده: د ټوکو حوصله نه لرم.

- زه هم درسره ټوکې نه کوم!

- نو ته خو خپله محبس کې یې؟

- ستا له وتو څو ورځې وروسته دروځم!

بیا مې لاس کې نیولي قران باندې ورته قسم وکړ چې په ژمنه درسره ودرېږم، خو په دې شرط چې ته له تیمور سره شرط ومنې او ما په ټوله کیسه پوی کړې. هغه له تیمور سره ټولې خبرې راته وکړې او ما هم ځای وروښود چې په لسمه ورځ، په کوم ساعت او کوم ځای کې به ګورو؟

***

د بلال له محبس نه د وتو درېیمه ورځ وه، خو زه نه پوهېدم چې څنګه وکړم؟ د مشورې هم څوک نه ول، ما باید ژر د تیمور او سردار کار ورکړی وی، خو څنګه؟ همدې ته ځورېدم.... یوازې د هغوی وژل راپر غاړه نه وو؛ له محبس نه وتل هم په کار ول، چې بلال سره کړې ژمنه مې پوره کړی وی!

وخت کم و، کار زیات و، محبس ته له راتګ وروسته ما ډېره ښه شروع کړې وه او هغه څه چې غوښتل مې پرې پوی شم، له وخته مخکې او بې له کومې ستونزې پرې پوی شوی وم، خو اوس کیسه بېخي سخته شوې وه او نوره هم

سختېده، پرېشانی وړی وم چې دروازه راوټکېده او بیا یو سړی راننوت، شیرین ماما، عمران او طارق ورسره سټړي مشي وکړل او ما ته یې هم لاس راکړ، هغه په وجود قوي او لوړ تور رنگی سړی و، شیرین ماما زه ورو پېژندم او ما ته یې هغه راوپېژنده چې سرتاج نومېده، عمران ورته له ترموز نه د چایو پیاله ډکه کړه، خو هغه وویل: چای نه څښم.

په سترگو کې یې نا ارامي ښکارېده، لاسونه یې یو بل کې وروستي وو، زما یې پر لاسونو شنو خاپونو او خالونو ته سترگې شوې، هغه طارق ته مخ کړ: لږې پیسې مې په کار دي، تا ته خو پته ده چې زه له تیمور نه پور نه کوم، چې د ټولو بندیانو قرضدار شم، دا راته ښه ده خو چې هغه سپي ته ټیټ سترگی نه شم.

طارق له جېب نه سامان راوویست، پیسې یې ترې یو خوا کړې، بیا یې وشمېرلې: له ما سره خو ټولې درې نیم سوه افغانۍ دي، که کار دې پرې شي، نو درنه جار دي.

سرتاج بې خونده خندا وکړه: نور ملگري به دې هم چنده وکړي؟

شیرین ماما په اوږه لاس ورکېښود: خیر خو به وي، پیسې دې څه ته په کار دي؟

- کور ته یې لېږم.

له دې خبرې سره یې عمران په خندا شو: د دې پر ځای چې کور نه یې تا ته راوړي، ته یې ورلېږې. فقط د دوبۍ مساپر یې اشنا!

شیرین ماما او طارق هم په خندا شول، سرتاج ته یې خوند ور نه کړ، پاڅېد او بې له څه ویلو ووواته.

د هغه له وتو وروسته شيرين ماما وویل: دا به ژر لېونی شي، ډېر پښتون او نر سړی دی، زما ورته سخت زړه سوځي، ټول عمر بند اسانه خبره نه ده، مرگ ترې اسانه دی.

بیا کوټه کې خاموشي شوه، ما سیگرټ بل کړ او بېرته د خپلو فکرونو او اندېښنو کور ته ننوتم!

له ډېر فکر وروسته راته یوه پیکه هیله پیدا شوه، دا چې سرتاج به زما غوښتنه ومني که نه؟ نه پوهېدم خو داسې مې گڼله چې مجبور انسان هر څه مني، ځان وژنه هم او د بل وژنه هم او بیا هغه هسې هم عمري بندي و، سزا به یې نوره څومره سخته شوې وی؟ د کور له ځورېدو خو به خلاص شي.

له قاسم سره اړیکه ډېره ضرور وه او هم دې ته حیران وم چې سرتاج څنگه دې کار ته راضي کړم؟

***

بل سهار له لمانځه وروسته مې سرتاج ولید چې له څو نورو کسانو سره یې د محبس د یو دېوال غاړې ته په جوړه شوې سیمټي لار منډه وهله، ورغلم او له هغوی سره په لږه فاصله مې منډه شروع کړه، بیا مې له سرتاج نه مخکې کېدو سره ځان وغورځاوه، هغه ژر راجیگ کړم، سپینه زېړ پیراني یې اغوستې او خولې، خولې و.

- خوږ خو نه شوې ځوانه؟

ما ځان وڅنډه: خیریوسې، ښه یم.

منډه یې واخېسته: راځه.

څنگ په څنگ ورسره په منډه شوم، هېڅ نه پوهېدم خبره څرنگه شروع کړم؟

- زه د شيرين ماما اطاقي یم، ابله شپه چې راغلی وې.

ترخه موسکا یې وکړه: ومې پېژندې!

- پیسې دې څه ته په کار وې؟
- زوی مې د زړه تکلیف لري، ډاکتران وايي باید عملیات شي...

بیا غلی شو: که ما پردي کورونه نه ورانولی اوس به زما کور هم داسې نه ورانېدی.

اندېښنه مې شوه چې په څه جرم یې د ټول عمر بند سزا ورکړې.

- څه دي کړي چې عمري قید یې درکړی؟

لاړې یې توف کړې: درته مې وویل کنه چې پردي کورونه مې ورانول، که هوښیار یې په نیمه پوی شه!

منله مې کراره کړه: زه دې د زوی د عملیات لپاره پیسې درکوم!

ودرېد، باور یې نه کېده: دا خو به راباندې غټ احسان وکړې.

- د احسان لپاره یې نه درکوم!

حیران شو: د څه لپاره یې راکوې؟ زه خو یې بېرته درته نه شم خلاصولی.

خبره مې په خوله نه راتله خو زړه مې غټ کړ: بدل کې یې یو کار وکړه!

ښکته پورته یې راته وکتل.

- د څه شي کار؟

بیا زړه نا زړه شوم، ویل مې هسې نه همدا راته څه غم جوړ کړي، خو اوس خبره شروع شوې وه.

- ستا د زوی په عملیات څو افغانۍ راځي؟

لړه شېبه غلی و: ډاکترانو ویلي چې درې نیم لکه افغانۍ پرې راځي!

- او تا سره نه شته؟
- که راسره وی، غم به مې څه وی؟
- نو بس زما کار وکړه!

بې حوصلې شو: خو د څه شي کار؟

- د دوه کسانو وژل دي!

غوسه شو: ملنډې مه وهه!

ترې روان شوم: فکر پرې وکړه، په بل چا هم دا کار کولای شم!

لږ ترې تللی نه وم، چې راغږ یې کړ: صبر خو وکړه کنه سړیه!

زما گومان سم و چې مجبور انسان هر څه مني.

هغه له رارسېدو سره وویل: خو په درې نیم لکه افغانیو درته دوه کسان نه شم وژلی، ځکه دې کار کې به څو نور ملگري هم راشریکوم!

ما ژر وویل: نو مرگ په څو دی؟

ښه شیبه غلی و، ځمکې ته یې کتل، بیا یې سر راجیگ کړ: پوره پنځه لکه افغانۍ به راکړې!

بې له دې فکره چې پیسې به ورته څنگه پیدا کوم؟ او یا چنې ورسره ووهم، خبره مې ورسره ومنله، غوښتل یې پوی شي چې څوک پرې وژنم؟ خو ما ورته ویل چې کله پیسې درته ورسېدې، هغه وخت یې درښایم!

ټینگار یې وکړ چې څومره ژر کېږي د پیسو غم راته وکړه او همدلته محبس کې به یې ورسپارم. ورته مې وویل: د تلیفون غم راته وکړه، زه به د پیسو غم درته وکړم!

کوټې ته یې له ځان سره یوړم، تلیفون یې راوسپاره، له عمومي تشناب نه مې قاسم ته زنگ وواهه، خو جیگ یې نه کړ، چې بیا مې ورته زنگ وواهه، مصروف و، وروسته د هغه زنگ راغی، اوکی مې کړ.

- اورم څوک یې؟
- د محبس په دېوال د کارغانو سیل کوونکی!

ویې خندل: ته باید ښکار وکړې!

- زه د طلایي مرغیو ښکاري یم، چې یوه، یوه پیدا کېږي، یوه مې پیدا کړې، خو زما ورتګ ته خبره پاتې ده.

- ته کارغان ښکار کړه، طلایي مرغۍ ما ته پرېږده!

- د کارغانو ښکاري شته، خو لومه ورسره نه شته، لومه په پیسو ده او زه باید ژر د طلایي مرغۍ ښکار ته درووځم، ګنې کارغان یې خوري!

همدا وخت د چا د قدمونو د رانږدې کېدو غږ راغی، د دروازې له چولي مې چې ورولیدل نو سردار و، موبایل مې بند او د کیناراب مرداري ته وغورځوه، چې له تشنابه ووتم، هغه راباندې سترګې راوویستې: څه شی دې کاوه؟

ځان مې بېخي عادي ونیوه: تشناب کې نو خلک څه شی کوي؟

راوړاندې شو، زما تالاشي یې واخېسته، چې ډاډه شو، رانه روان شو، شکر مې وویست چې تلیفون راسره نه و ګنې جنجال جوړېده!

د سرتاج دوی کوټه د دهلېز سر کې وه، دروازه کې ولاړ و چې تلیفون ورته وسپارم، کله مې چې ورته د هغې کیناراب ته د غورځولو خبره وکړه، ښه پرې و نه لګېده.

- هغه د کوټې د پنځه ملګرو شریک و.

ډاډ مې ورکړ چې تاوان یې درکوم!

اوس نو زما اندېښنه دې ته وه چې هسې نه له بلال سره د ژمنې تر وخته له محبسه و نه شم وتی، قاسم باید ژر پیسې رارسولی او زه له محبسه ویستی وی. هم دې ته اندېښمن وم چې په سرتاج زما کړی باور سم دی که نه؟ هغه ته مې لا دا هم نه وو ویلي چې زه پرې څوک وژنم؟ او که د تیمور او سردار د وژلو ورته ووایم هسې نه چې ویې نه مني، بیا به څه کوم؟ د پیوازانو ورځ ته انتظار وم، ویل مې قاسم به خامخا یا خپله راځي، یا به څوک رالېږي!

***

له سخت انتظار وروسته د پیوازانو د راتګ ورځ راورسېده، تر لس بجو انګړ کې ګرځېدم راګرځېدم چې قاسم به راشي، خو نه هغه راغی، نه بل څوک، اخر مې حوصله ختمه شوه، کوټې ته لاړم چې انتظار اسانه شي، سیګرټ مې یو بل پسې څکول او قاسم ته مې غوسه راتله چې ولې یې هېڅ احوال رانغی؟ که پیسې را و نه رسي نو سرتاج سره هم په لانجه اوړم.
همدا وخت مې د دهلېز عمومي دروازه کې د ناست لاوډ سپیکر والا غږ واورېده چې زما نوم یې اخېسته، اول مې فکر وکړ چې غټ محبس دی، بل کامران به وي، خو هغه دا ځل زما له نوم سره دا جمله هم وویله چې راشه قاسم دې لټوي، له خوښۍ مې چغه کړه او په یوه منډه مې ځان انګړ ته ورساوه، ویل مې کار جوړ شو، ما قاسم لټوه چې یو پګړۍ وهلي سړي په اوږه لاس راکېښود: دلته یم!
هغه ته مې ښکته پورته وکتل، سم بابا یې له ځان نه جوړ کړی وی، که غږ یې نه وی کړی، پېژندلی مې نه شو. د منو خلته یې لاس کې نیولې وه، سترګه یې راته ووهله او راغاړېوت!
له جوړ پخیر وروسته یو ځای چې ګڼه ګوڼه کمه وه، کېناستو، یوه منه یې له پلاستیک نه راوویسته، د غاړې په دستمال یې پاکه او ما ته راکړه، د هغه موسکا نا ارامه کړم: ما له تا څه غوښتي وو او تا څه راوړي؟
ویې خندل: خو تا ویل چې منې راوړه کنه!
پوی شوم چې ملنډې وهي: پیسې دې راوړې؟
- په خدایکه به مې راوړي وي!
- نو څه شي ته راغلی یې؟ زه یې باید نن ورته وسپارم!
- ته یې نه شې ورسپالی او که چا درسره ولیدې، په خپلو پیسو دې وژني، پیسې به کور ته وروړسي.

- هغه یې همدلته محبس کې غواړي او ما ورسره همداسې خبره کړې!

فکر کې شو: یو عسکر ته یې سپارم، ته یې نوم او د کوټې شمېره راته ووایه!

زړه مې ولگېد: او زه هم باید تر سبا ووځم!

هغه له منې کپ وکړ: تر سبا ستا وتل سخت دي!

- خو بل سبا هغه طلایي مرغۍ کارغان ښکار کوي!

- ومې ویل چې تر سبا ستا وتل سخت دي!

غوسه راغله.

- تا ته باید اسانه وي، ته خو د امنیت والا یې!

هغه وخندل: کېدای شي نه اوسم!

بیا یې په اوږه وټپولم: زړه مه غورځوه؛ که سبا نه شي، بل سبا خو به ووځې!

د هغه له تگ نه وروسته سرتاج سره مخ شوم، دستي یې د پیسو پوښتنه وکړه چې څنگه شوې؟

ډاډ مې ورکړ چې تر سبا ماښام پورې به کوټې ته درورسي، په دې خبره یې راباندې لاس واچو.

- ښه نو اوس وایه چې د چا او چا مرگ غواړې؟

زه لږ غلی وم: د تیمور او سردار!

له دې خبرې سره لکه بوت په خپل ځای ولاړ پاتې شو، وازې سترگې یې راته نیولې وې: هغوی درته څه ویلي؟

- هیڅ یې هم راته نه دي ویلي، دا کار د خدای ج د رضا لپاره کوم چې ټول بندیان یې له عذاب نه خلاص شي!

ځمکې ته په کتو شو: خو د هغوی مرگ دومره اسانه نه دی، ځکه ځای یې معلوم نه دی، د شپې یو بلاک کې وي، د ورځې بل.



Scanned with CamScanner

خو تا له ما سره ژمنه کړې!

غلی و، غلی و، بیا یې سر راجیګ کړ: زه په ژوند له خپلې ژمنې نه یم اوښتی، اوس مې چې ژمنه درسره کړې، خامخا یې پوره کوم، سبا ماښام به که خدای کول د تیمور او سردار د مرګ خبر واورې!

په دې خبره مې ترې نږدې له خوشالۍ غاړه تاوه کړې وه، ما ویل هسې نه چې ووایي زه دا کار نه شم کولای، خو ښه شوه چې وېره مې بې ځایه وه.

لاس مې په اوږه ورکېښود: دا کار باید بل سبا وشي!

حیران شو: ولې؟

ورته موسکی شوم: بل سبا د جمعې مبارکه شپه ده!

ویې خندل: غواړې جنت ته لاړ شي!

سرتاج ته مې د هغوی د مرګ یوه ورځ وروسته کول ځکه وویل چې هسې نه دې پېښې زما له محبس نه وتل ځنډولی وی!...



Scanned with CamScanner

## (۴)

د محبس مخ ته په تېر شوي سړک خالي ټيکسي ته انتظار وم، چې له ما لږ وړاندې طلايي رنګه کرولا موټر برېك وواهه او بېرته شاته راغی، شيشه يې ښکته کړه: راخېژه!

د قاسم په ليدو مې زړه ولګېد، مخکې سېټ کې ورسره کېناستم، له سترې مشو سره يې ووېل: هر څه پخير تېر شول؟

شيشه مې ښکته کړه چې تازه هوا واخلم: هر څه خو اوس شروع شول؟... هغه سترګې راکږې: په خبره مې دې سر خلاص نه شو!

- څو بجې دي؟ څلور بجې مې له بلال سره ژمنه ده؟

هغه په لاس کړي ساعت ته وکتل: لس باندې درې، خو په دې اړه بايد خبرې وکړو.

ومې خندل: فکر کوم د خبرو وخت نه لرو، ژر مې بايد د ژوبڼ مخ ته ورسوې. بيا مې ورته محبس کې چې څه تېر شوي وو، په لنډه تشريح کړل.

ويل يې تيمور او سردار ووژل شول؟

- سبا یې وژني!

بریک یې وواهه: په هغه کس څه باور؟ که ویې نه وژني.

- موټر مه دروه چې ناوخته کېږي.

حرکت یې وکړ: تېروتنه دې کړې، پیسې او خواري مو هسې لاړه نه شي.

په سپټ بورډ له ایښي ډبې مې سیګرټ راوویست.

- ډاډه یم چې سرتاج له خپلې ژمنې نه اوړي، که زه نه وی راوتی، دغه اوسنی ښکار مو له لاسه واته.

عمومي سړک ته ووتو، چې ژوبڼ ته تللی و.

- خدای ج دې وکړي چې ستا باور سم وي، خو د بلال پر ځای مرګ ته د تګ خبره دې بېخي لېونتوب دی.

ورته موسکی شوم: دا لېونتوب ضرور دی!

هغه زما له لاسه سیګرټ واخېست: ته ځان ته بل ولګوه!

فکر کې ورک و، بیا یې وویل: لوبه بېخي بل خوا لاړه، باید په بله لار جنګېدلی وی!

- خو اوس همدا یوه لاره لرو چې زه د بلال پر ځای لاړ شم او د مرګ اصلي سوړه بنده کړم!

له ښه شېبه بحث نه وروسته یې قناعت راسره وکړ، ځکه بله لار نه وه او بیا داسې موقع نه راتله!

لس کم څلور بجې ژوبڼ سره نښتي چمن ته ورسېدو، له قاسم سره مې مخه ښه وکړه، سترګې یې ډنډ وې: خدای دې وکړي چې بیا سره په ژوند وګورو!

لاس مې یې زور کړ: بله دنیا کې به ګورو!

ترې ښکته او د ژوبڼ د دېوال څنګ ته پلی روان شوم، د انتظار اوږدې چوکۍ باندې ناستو دوه کسانو کې مې بلال ولیده، له ځان نه یې پټو تاو کړی

او غونج ناست و، چې پر ما یې سترګې ولګېدې، باور یې نه راتلو چې زه به رښتیا هم په خپل کړي قسم دربېږم، راجیګ شو، کلکه غاړه یې راکړه... هاغه ځای چې بلال ته تیمور ښودلی و، د منډیي کوڅه کې د یوناني درملو دوکان و، له حکیم سره د پېژندنې شفر یې راکړ. څو ځل یې پوښتنه وکړه چې زه ولې د هغه پر ځای مرګ ته ځم؟ خو ما د ځواب ورکولو پر ځای ترې وغوښتل چې څو ورځې د خپل کور پر ځای بل چرته اوسه!

په ټیکسي کې مې منډیي ته ځان ورساوه، په ټوله لار مې همدا فکرونه کول چې زما دا کار سم دی او که له خپل ژوند سره لوبې دي؟ خو زما ژوند د دې لوبې له پرېښودو سره بې مانا کېده او اوس د دې لوبې پای رانږدې شوی و، زه باید نه وی پښېمان شوی!

لمر غورځېدلی او تیاره په خورېدو وه چې د منډیي په لویه کوڅه ورتاو شوم، په دې کوڅه کې له سهاره تر ماښامه رش وي، لوی سړک په کراچیو ډک دی، د کراچیو د کتارونو تر منځ نری لارې پرېښودل شوي، هر سړی په بیړه و، چا سودا لیلام کړې وه، چا توکي ټولول او څوک ګنډې په لاس روان ول. ښي لاس ته زاړه مارکېټونه وو، د دوکانونو لوحې مې لوستې او روان وم... بیا مې د هماغه دوکان په لوحه سترګې ولګېدې چې زما په کار و.(د حکیم زیارت ګل یوناني طبابت!)...

ورننوتم، خواږه بویونه په سپېږمو راننوتل، په چوکۍ ناست کس چې د غټو شیشو عینکې یې پر سترګو او کوم کتاب لوسته. لنډ راوکتل. ږیره یې په نکریزو سره او سترګې یې په رنجو تورې کړې وې.

د دوکان بل سر کې یو خام هلکی ناست و، مندسته (اونګ) کې یې څه ټکول، حکیم کتاب بند او په مېز ایښې پګړۍ پر سر کړه، ما په الماریو کې

بوتلونو باندې سترګې تېرې کړې او بیا مې حکیم صیب ته مخ کړ: جنت له دې ځای نه څومره لېرې دی!؟

عینکې یې لېرې کړې، په موسکا یې لاس راوغځو: ته د جنت په دروازه کې یې!

راجیګ شو، تورې چارسده والې څپلۍ یې په پښو کړې، ناست هلک ما کې سترګې اچولې وې، د استاد پر ځای کېناست، حکیم ورته لږ ساعت پسپسک وکړ او بیا مخکې شو!

هغه مخکې او زه ورپسې، له څو کوڅو تېر شوو، په لار یې تلیفون کې له چا سره په شفرونو خبرې وکړې، د چوک عمومي سړک ته ورسېدو، له لږ انتظار وروسته له موږ نه مخکې یو تور پرونر برېک وواهه، حکیم راڅنګ ته شو: ورځه چې جنت کې چکر درکړي!

ما وروکتل: چې ته هم راسره لاړ وی، چکر به خوندور شوی وی!

وېې خندل، زه ترې موټر ته روان شوم، وروستۍ دروازه راته خلاصه شوه، هلته یو کس ناست و، دستي یې کڅوړه راپر سر او لاسونه راولچک کړل، موټر حرکت وکړ.

نه پوهېدم چرته مي وړي؟ خو په دې پوهېدم چې نه مې وژني، ځکه زه خپله مرګ ته راغلی وم!

له ښه ډېر مزل او تاوېدو راتاوېدو وروسته، موټر یو ځای برېک وواهه، هارنډونه یې وکړل، د دروازې د خلاصېدو غږ مې واورېد، بیا یې زه له موټره ښکته او لاس نیولی روان کړم.... د یو چا د خندا له غږ اورېدو سره یې ودرولم، یو نفر رالنډ شو: موږ یې رسوو!

پوی شوم چې د نویو خلکو لاس ته وغورځېدم، لکه چې دوه کسان وو، یو یې له چا سره تلیفون کې غږېده او ډاډ یې ورکوه چې هر څه سم روان دي،



Scanned with CamScanner

بل یې زه روان کړم، له لږ تگ وروسته یې یوه اوسپني تخته جیگه کړه، لاسونه یې راته خلاص کړل، د زینې په اوسپني پاړکو څمکتلې ته ښکته شوم، هغه کس هم راپسې راښکته شو، بیا یې لاس نیولی مخکې کړم، یوه دروازه یې خلاصه کړه، کڅوړه یې له سره رالېرې کړه، څه شیبه مې سترگو څه نه لیدل، خو بیا مې پټ مخی متور وسله وال ولید چې زه یې راښکته کړی وم، هغه ووت، دروازه یې راپسې بنده کړه، کوټه کې له سترگو اړولو وروسته هلته پرتې زړې توشکې باندې څملاستم، دا چې ستړی او بې خوبه وم، دستي مې سترگې پټې شوې...

په اوسپني زینه د چا د راکېوتو په غږ راپاڅېدم، خوله مې وچه او ستونی مې تریخ و، وړې کوټې د هوا لپاره دریڅه نه لرله، سوړ بوی و، ساه مې په کې بندېده، نه پوهېدم اوس شپه ده که ورځ؟ راکېناستم او بیا همدې دوزخي فکرونو کې ورک شوم چې ما سم کار کړی که نه؟ زه بې له دې فکره چې دلته له راتگ وروسته به له څه سره مخ کېږم؟ راغلی وم، دا چې څه کېدل؟ انتظار وم.

په نظامي جامو کې یو کس چې مخ یې پټ او تورې چشمې یې په سترگو وې، دروازه راخلاصه کړه، یو بوتل اوبه او د کېک پاکټ یې راته کېښودل، ژر مې اوبه وڅښلې او ورته مې وویل: یو سیگرټ غواړم.

د سیگرټو ډبی یې له لایټر سره پښو ته راوغورځول.

سیگرټ مې بل کړ.

- دلته تشناب نه شته؟

په ډډ غږ یې وویل: د توشک لاندې مې درته پلاستیکونه ایښي، هماغې کې یې کوه!

خندا راغله: تېوکې کوې؟

بې له څه ویلو ووت، دروازه یې راپسې بنده کړه او زه بیا اندېښنو او فکرونو په مخه کړم. د تیمور او سردار له مرګه هم خبر نه وم، سرتاج به رښتیا په ژمنه ولاړ وي؟ او زه به دلته څنګه او کله موقع پیدا کوم چې دا د مرګ سوړه بنده کړم؟ هسې نه بلال نه وي رسوا شوی...

څومره وخت به وتی و چې بیا مې په زینه د چا د راښکته کېدو غږ واورېد، دا ځل دوه پټ مخي راننوتل، کېک او اوبه یې چې راوړې وې، هغه وویل: دا د ښار تر ټولو تکړه خیاط دی، تا ته د واده لپاره واسکټ ګنډي.

یو لنډي کس مې اندازه واخېسته، بیا یې په ملنډو وویل: د ده وجود خدایي واسکټ ته جوړ دی!

د هغوی له وتو وروسته مې کېک له اوبو سره وخوړ، لوږه مې کمه شوه، خو لږه شیبه وروسته راباندې سر دروند او په سترګو تیاره شوه...

یو وخت مې سترګې خلاصې شوې، سر مې بد درد کاوه، د اوبو بوتل پسې د لاس غځولو شیمه هم راکې نه وه، په چغو شوم: څوک شته؟... خو ډبرینو دېوالونو مې بېرته همدا ما ته غږ راتاو کړ، ډېر وخت بې حاله پروت وم، بیا مې وجود کې شیمه پیدا شوه، اوبه مې وڅښلې او همداسې دېوال ته تکیه کړې فکرونو کې ورک ناست وم چې په زینه د یو چا د راکېوتو غږ شو، ورپسې څو نور کسان هم راکېوتل، ما بیا چغې کړې: څوک شته؟ زه غواړم ژر مړ شم! راکېوتي کسان لکه کاڼه چې وي، خپلو کې په خبرو لګیا وو: لین وړوکی دی، هغه ګروپ بند کړئ... پراجیکټور ته مېز راوړئ...

همدا وخت د یوې بلې کوټې د دروازې د خلاصېدو غږ راغی. بیا د بلې او بیا یو پټ مخي زما د کوټې دروازه راخلاصه کړه، په خوله یې پلستر راوواهه، ګکځوړه یې راپر سر کړه، چې سترګو ته په کې سوري پرېښودل شوي وو، په هغې یې تورې عینکې راکېښودې، ولچک کړې یې دهلېز ته راوویستم، له یو

غټ خېټي، بې وسلې، پټ مخي سره چې جامې یې اغوستې وې، دوه ساتونکي ولاړ ول، زه یې له دوه نورو مرگ ته راغلو سره کېنولم، نه پوهېدم څوک دي؟ او له کوم ځای نه راغلي؟... غټ خېټي سره لاس کې یو متر سپینه لښته وه، پر دېوال راځړېدلې سپینې پردې ته نږدې شو، ما سترگې وگرځولې، یو اړخ ته د څو کوټو دروازې وې او یوازې هماغه اوسپني زینه راکېوتې وه، د هوا لپاره د دهلېز اخر کې یوه دریڅه وه. سپینې پردې باندې په مېز له اینبې ماشین نه مستقیمه رڼا وغورځېده، یو کس پرې راښکاره شو، چې له باروتو ډک واسکټ اغوندي، له هغې فقط دوه لینونه راځوړند وي، له پاسه پرې یوه لویه پراشوټي کورتۍ اغوندي، د واسکټ یو لین د کورتۍ د جېب په سوري کې راننباسي.

ویډیو ودرېده، غټ خېټي لښته د کورتۍ جېب ته ونیوه: د کورتۍ جېب کې لاس ننباسي او بټن وهي.

بیا موږ ته رامخامخ شو، د لاسونو په خوځولو یې خبره وغځوله.

دا تر ټولو اسانه او خوندي لار ده، خو که تاسې ته ویل شوي وي چې له بټن وهلو مخکې په وسله وجنگېږئ او بیا ځان ته چاودنه ورکړئ، نو هلته کېدای شي جېب ته د لاس ننویستل سخت شي، د همدې لپاره یو لین د کورتۍ په لستوڼي کې راباسو چې ماشه وهل هم اسانه وي او د واسکټ بم بټن هم.

یو ساتونکي وویل: استاده که څوک دا کار هم و نه شي کړی نو بیا؟

استاد ویډیو کې په واسکټ د سینې برخه کې وړوکي، د گوتې په اندازه سکرین او دوه بټنو ته لښته ونیوه: مخکې له دې نه چې واسکټ اغوستی کس هدف ته روان شي، له دې ځایه بم ته وخت ورکول کېږي او هم یو بل تعقیبي کس باید اوسي، چې واسکټ کې اینبې سیم ته په زنگ وهلو بم والوځوي.

ساتونکي يې موږ ته رامخ کړ: مطلب په هېڅ صورت واسکټ اغوستی کس ژوندی نه شي پاتې کېدای.

درې څلور نورې ویډیوګانې یې هم موږ ته راوښودې او پوی یې کړو چې دا ټول ټکي ذهن کې ونیسو.

بېرته یې هر یو خپلې کوټې ته یوړو، کله چې یې له خولې پټی راخلاصه کړه، نو پوښتنه مې وکړه: نن د څه شي ورځ ده؟

- یکشنبه ده.

زه دلته د چهار شنبې په ماښام راغلی وم. پوی شوم چې کېک کې د خوب درملو څو ورځې ویده کړی وم، دا چې موږ ته یې د واسکټ اغوستو او چاودنې زده کړه راکړه، ښکاره وه چې ژر به یې حقیقت کې هم راتړلو او زه هماغې وخت ته ډېر په بې صبرۍ انتظار وم چې واسکټ واغوندم!

وسله وال څلور کېلې راته کېښودې او ووت. قوطۍ کې پاتې وروستی سیګرټ مې بل او په دې فکر کې شوم چې دا ځای چرته دی؟ پاس څه دي؟ زما له راتګ نه وروسته څه شوي؟ تیمور او سردار به وژل شوي وي که نه؟ دا دوه نور مرګ ته راغلي هم د محبس بندیان وو؟ که دلته د راتګ نورې سوړې هم شته؟...

په کوټه کې په قدم وهلو ستړی شوم، د دروازې د خلاصولو په فکر کې شوم چې ووځم او د دهلېز له دریځې نه وګورم چې دا کوم ځای دی؟ کوټه کې د داسې شي په لټولو شوم چې دروازه پرې خلاصه شي، پر دېوال مې یو ټک وهل شوی مېخ ته پام شو، د هغه راویستل هم اسانه نه وو، د نرۍ روجایي یوه پیڅکه مې ورپورې وتړله، ټولو خواو ته مې ټکانونه ورکړل او بیا مې راکش کړ، مېخ راووت خو زه وغورځېدم، اوږې مې بربېښ وکړ. اوس نو اسانه وه چې دروازه څنګه خلاصه کړم؟

مېخ مې د دېوال په څېره تيره له ښه ډېرو مښلو وروسته دې ته جوړ که چې د دروازې د کيلي په سوري ورننوځي، د لاس په ورغوي مې سوري کې ورزور کړ، لمن مې خوله کې ونيوله او د غاښونو په زور مې د مېخ تاوولو هڅه شروع کړه، غاښ مې وبرېښېد، خو مېخ حرکت وکړ، د لاستي له ښکته کولو او پورته کولو سره مې مېخ يو خوا بل خوا تاوولو، يو ټک مې واورېد، زړه مې ولګېد، لاستی مې لاندې زور او په جړک راکش کړ، د دروازې په خلاصېدو مې سترې دمه شوه، په کراره راووتم، تياره وه، زړه مې درزېده، دريځې ته مې هغه مېز چې د ويډيو ماشين يې پرې ايښی و، په کراره يوړ او پرې ورپورته شوم، مخې ته يې اوسپنې پنجره ښتې وه، شپه وه، خو دومره پوی شوم چې دا ځمکتله کوم دولتي ځای کې ده، ځکه چې مخامخ په څو مترۍ کې د تېر شوي دېوال په سر اغزن سيم همدا مانا لرله، له دې ځايه نور هېڅ نه ښکارېدل، بېرته راښکته او مېز مې خپل ځای ته يوړ.

هغه هيله مې چې د دروازې خلاصېدو ته لرله او هغه خوښي چې د دروازې په خلاصېدو راغلې وه، اوس نه وه. يو ځل مې ويل چې د کومې بلې کوټې له دروازې نه ځان غوندې مرګ ته راغلي سره خبرې وکړم، خو دا کار خطرناک و، اوسپنې زينې ته مې پام شو چې يو کونج کې له چت نه مستقيمه راکېوتې، دا چې پښې لوڅې وم، بې له غږ و غوږه پرې پورته شوم، په اوسپنيزه تخته يې سر پوښل شوی و، له نري چاود نه مې هڅه وکړه چې څه وګورم... هلته رڼا وه، لوی انګړ ښکارېده، چې لارې او چمنونه په کې ول، ځمکتله د کور د انګړ يو سر او يوه لويه سپينه ماڼۍ د انګړ بل سر کې زما د سترګو مخامخ ولاړه وه، همدا شيبه د سپي له غپېدو سره غږ راغی: نن شپه چې ما ته خوب راغلی، کارونه زيات دي.

د بل کس د خندا غږ شو: ما خو ورته تابلیت اچولی، د شل ساعته بې خوبۍ ذمه وار دی.

دوی دواړه د څمکتلي په سر بښي اړخ ته، د زینې له خولې سره څو متری کې ناست وو، ما یې یوازې توري موزې لیدلې، ډارېدم که بېرته کېوځم، نو کړپ کړوپ جوړ نه شي، د زړه د درزا غږ مې هم اورېدل کېده، د لایټر د بلېدو غږ شو او بیا مې د سیګرټ بوی په سپږمو راننوت، د خندا والا غږ بیا راغی: رئیس ویل چې محبس کې زموږ دوه غټ کسان چا وژلي.

نږدې مې له خولې چغه وتلې وه، خو خدای خیر کړ، سرتاج خپله ژمنه پوره کړې وه، بې شکه چې دا وژل شوي کسان تیمور او سردار وو!

بل ملګري یې وویل: رئیس خو ویل چې موږ هېڅ دښمن نه لرو، نو دا کسان چا ووژل؟

- هغه هم وارخطا دی چې ناڅاپي دا دښمن څنګه راپیدا شو؟

د پوښتنې والا وخندل: نو ځکه یې زه مخکې له دې نه چې رخصتي مې پوره شي، بېرته کار ته راوغوښتم، لکه چې دښمن ډېر تېز مخکې راروان دی.

مخابره کې پرې چا غږ کړ: هلکانو وېښ اوسئ، والي صیب راروان دی.

دوی ډاډ ورکړ چې بې غمه اوسه، له لرې چوپتیا وروسته، رخصتي نه د راغلي کس غږ شو: والي صیب چیشي ته په دې نیمه شپه راځي؟

بل ځواب ورکړ: سبا ډېره مهمه ورځ ده!

- د څه شي مهمه ورځ ده؟

- زه هم نور خبر نه یم، خو مازیګر مې د رئیس له خولې نه واورېدل چې د لاندنیو درې واړو خبره یې له چا سره خلاصه کړې او سبا یې وړي!

له دې خبرې سره مې وجود رېږد ونیوه، زما د ژوند وروستۍ شپه وه، راکېوتم، یو ځل بیا مې داسې حس کړه چې دلته راتګ مې تېروتنه ده، خو که راغلی نه

وی، نو ټول عمر به مې وجدان ته ملامت وی چې د ورور او وطن له دښمن
نه د غچ اخیستو موقع مې لرله، خو زه له مرګه وډار شوم!
په کوټه ننوتم، تیمم مې وواهه او په لمانځه ودرېدم، له خدای ج نه مې
وغوښتل چې په خپلې موخه کې مې له ناکامۍ وساتي، تر څو د ځمکې له
مخه دا بدمرغه تخم ورک کړم چې ستا له بنده ګانو په بې رحمۍ ژوند اخلي!
په دعا ګانو کې مې سترګې پټې شوې وې چې تشي کې په لغته ولګېدم، ژر
راکېناستم.
راننوتي کس راته د ټوپک شپېلۍ ونیوه: دروازه دې په څه شي خلاصه کړه؟
ځان مې په ناخبرۍ وواهه، په تشي مې لاس کېښود: ما خو دروازه نه ده
خلاصه کړې!
تالاشي یې شروع کړه، ورته مې وویل: کېدای شي له تا خلاصه پاتې شوې
وي، خو زه بهر نه یم وتلی او نه مې دا لیدلي چې دروازه خلاصه ده که بنده؟
هغه کڅوړه سر ته راواغوسته، دهلېز ته یې راوویستم، له ځمکتلې نه له راوتو
سره مې په بدن د لمر نرمې وړانګې حس کړې، موټر ته یې پورته کړم، نه
پوهېدم چرته مې وړي؟ له لږ تګ وروسته موټر ودرېد، لاس نیولی یې
راکېوستم، داسې مې حس کړه چې د موټرو پارکېنګ کې یوو.
یوې کوټې ته له ننویستو وروسته یې له سر نه کڅوړه رالېرې کړه، کوټه فرش
شوې او لرګینې چوکۍ پرتې وې، کړکیو ته پردې خورې وې، هغه کس چې
رانویستی وم، په کوټه کې دننه یوې دروازې ته ګوته ونیوه: تشناب شته، په
مردار ځان مرګ ته تګ ښه نه وي!
تشناب ته لاړم، هېنداره نه وه چې ځان مې کتلی وی، په تړمو اوبو مې حمام
وکړ، هلته څو جوړه سپینې جامې راځوړندې وې، یو جوړ مې ترې واغوستې،
چې راووتم نو له ځمکتلې یې دوه نور مرګ ته راغلي هم راوستي وو.

وسله وال له ما وغوښتل چې بېرته کځوړه پر سر او کېنم، بیا یې یو بل مرګ ته راغلی تشناب ته یوړ، دوی دا هم نه غوښتل چې دوه نور او زه د یو بل مخونه وګورو، په همدې طریقه درېیم کس هم تشناب ته یوړل شو. زموږ په سر ولاړ کس مخابره کې له چا سره لګیا شو... ما وویل: زه وږی یم!

د خندا غږ شو: د حورو مېلمه یې، ځان مه مړوه!

غلی شوم.

دا وخت یو نوی غږ راغی: دا جامې پر ما غټې دي!

د دې غږ له اورېدو سره مې سپیني وتښتېدې، زما هېڅ باور نه کېده، هغه د بلال غږ و، د چا پر ځای چې زه مرګ ته راغلی وم، یوه شېبه کې سل پوښتنې راپیدا شوې، دا څه شي ته، کله او څنګه راغلی؟... ساتونکي مې ماشه په ملا رازور کړه: تا د هغه کمیس اغوستی!

همداسې په پټ مخ یې پر موږ کمیسونه بدل کړل. د کمیس په جېب کې مې کوم څه حس کړل، د بلال د کمیس بدلېدو غوښتنه بې هدفه نه وه، ومې ویل: زه تشناب ته ځم!

وسله وال غوسه شو: فرمایشونه دې زیات دي!

تشناب ته له ننوتو سره مې جېب ته لاس کړ، یو کاټ شوی کوچنی کاغذ و. (هغه کار چې ته یې کوې؛ ما ته یې پرېږده!)

یانې څه؟ بلال څه پوهېږي چې زه څه کوم؟ ما خو غوښتل چې کله واسکټ راوتړي، نو هماغه شېبه به بټن زور کوم او په خپل مرګ به دا د مرګ سوړه بندوم.... بلال څنګه دې کار ته راضي شوی او تر دې ځایه راغلی و؟ بېخي زیات حیران وم، داسې مې وګڼله چې هغه قاسم رالېږلی، هغه ته مې هم غوسه راغله چې یو له مرګه خلاص شوی یې بېرته مرګ ته رالېږلی، خو اوس ما د هغه د مرګ مخه نه شوه نیولای، له دې ځایه د وتو یوازې یوه لار وه چې

د مرگ په دروازه به وځې او دې هم امکان نه لره چې بلال ته مې ویلی وی، زه خپل کار په خپله کوم، کاغذ مې څیرې او کمود ته وغورځو.... راووتم، نه پوهېدم چې په ناستو دوو کې بلال کوم یو و؟ کځوړه مې پر سر او دېوال ته تکیه کړی کېناستم، ویل مې کاش وسله وال د لنډ وخت لپاره ووځي او زه له بلال نه پوښتنه وکړم چې ولې راغلی؟ چا رالېږلی؟... همدې فکرونو کې وم چې دوه کسه راننوتل.

- لومړي هدف ته کس تیاروو!

زموږ پر سر ولاړ کس غبر کړ: څوک غواړي اول جنت ته لاړ شي!؟

چوپتیا وه، دلته نور زما پاتې کېدل ضرور نه و، بلال چې تر دې ځایه راغلی و، نو خامخا یې هغه کار کاوه چې ما غوښته!

پوهېدم چې بلال غبر نه کوي او که هغه بل ناپېژانده مرگ ته راغلي غبر کړی وی، کېدای شي بیا راته داسې موقع نه وی پیدا شوی، ومې ویل: زه غواړم!

په قهقهه خندا شوه، له سره یې کځوړه رالېرې کړه، ویې درولم، له راوړو دړېو واسکټونو یې یو راواخېست، په څو شېبو کې یې راواغوست، د واسکټ ځنځیر یې راوتړه، بیا یې کورتۍ راواغوسته: څوک به ووایي چې تا واسکټ اغوستی او ځانمرگی یې؟ بیا په خندا شو...

ما ځان ته لاندې باندې وکتل، یوه بټن یې جېب ته راوویسته، بیا یې په اوږه لاس راکېښود: نور خو پوهېږې چې څه به کوې؟

ما ورته سر وخوځوه.

یو پټ مخي قلم او کتابچه راته ونیوله: که چا ته وصیت یا خط لیکې، نو موږ یې ورته ستا له پاتې پیسو سره یو ځای رسوو!

ورته مې وویل: زه څوک نه لرم.

ښکته پورته یې راته وکتل: هېڅ څوک دې نه شته؟

- یو خدای لرم او هغه مې حال گوري!

بله خبره یې و نه کړه، باید ژر مې پرېکړه کړې وی، خپل کار بلال ته پرېږدم او که خپله یې وکړم؟ که مې همدلته بټن نه وی زور کړی، نو هغوی د بې گناه خلکو منځ کې دا کار راباندې کولو، خو ایا هدف ته تر رسېدو پورې ما ځان نه شو ژغورلی؟ له دوه ولاړو کسانو یو لاسونه راولچک کړل ما د بټن د زور کولو زړه و نه کړ او داسې مې وگڼله چې تقدیر ما سره بله ښېگڼه کوي!

کڅوړه یې راپر سر کړه، بیا یې مخابره کې چا ته د تیاري وویل.

د هغه کس غږ شو چې واسکټ یې راغوستی و: تاسې دا رسوئ، زه به دا نور دوه شاوگان تیار کړم!

موټر ته یې پورته کړم، په مخابره کې ورته کوم نفر سپارښتنې کولې: په دیارلسم سړک ځان ورسوئ، په عمومي سړک ځای، ځای چیک پواینټونه دي.

د ډرېور څنگ ته ناست کس ډاډ ورکړ او بیا یې زه مرگ ته روان کړم!

ما باید ځان ژغورلی وی، خو څنگه؟ چې هر څومره فکر مې وکړ، کومه لار نه وه، بې له دې چې زه له ځان سره د بې گناه خلکو پر ځای، دا دوه ناست کسان مردار کړم، خو له مرگ نه زیات دې ته څورېدم چې بلال به رښتیا هم هغه کار وکړي چې ما غوښته؟

له ښه شېبه مزل وروسته، موټر ودرېد، پوښتنه مې وکړه: راورسېدو؟

یو ځواب راکړ: ترافیکي اشاره سره ده!

د زړه درزاه مې کمه شوه، همدا وخت بل غږ کړ: پرویزه ته وگوره، هاغه باري نه دی؟

- هماغه ښکاري، دا دلته څه کوي؟

ملگري یې ځواب ورکړ: خیبر خو ویل چې د پیسو له کڅوړې سره تښتېدلی!



Scanned with CamScanner

- غږ ورته کوم!
- مه يې کوه، بايد خپل کار وکړو!

زه نه پوهېدم چې دوی د چا په اړه لګيا شول؟
پرويز نومي وويل: رئيس يې څو ځل پوښتنه وکړه، ويل معلومات وکړئ چې مړ دی که ژوندی؟... بيا يې شيشه ښکته کړه: باري.. اورې؟....دېخوا ګوره....... موټر ته راخېژه!
او لږه شېبه وروسته يو کس راوخاته، زما څنګ ته کېناست، موټر روان شو، کوم يو چې ورته غږ کړی و، مخ يې پسې راشاته کړ: په خيرونو، په خيرونو، دا چرته ورک وې؟
د باري په نوم راختلي کس ځواب ورکړ: رئيس يو کار راسپارلی و.
ډرېور وخندل: خيبر خو ويل چې د پيسو له کځوړې سره تښتېدلی!
- خيبر درسره ټوکه کړې، نوی دښمن راپيدا شوی، د عاشقانو کوڅه کې يې څه وخت مخکې زموږ کسان وژلي وو، رئيس د هغوی د معلومولو کار راسپارلی و.
- نو پيدا دې کړل؟
- هو، دوه کسان دي.

ډرېور وخندل: دوه کسان نو دومره کار نه شي کولای.
- هغوی ډېر پټ ګوزار کوي، ما يې يو وواژه او بل پسې يې ګرځم!

له دې خبرې سره مې ساه اخېستل بند شول، مړه خوله راباندې راغله، يانې قاسم وژل شوی و؟ هغه مې سترګو ته ودرېد او دا چې څنګه؟ چرته؟ او کله يې وژلی؟ نه پوهېدم، لږه شېبه د خفګان احساساتو ونيولم، خو ژر مې ځان په دې ډاډه کړ چې خدای ج د هغه له قاتل نه د غچ اخېستو موقع هم راکړه! دا



Scanned with CamScanner

ښه وه چې کڅوړه مې پر سر وه، ګنې زه هم ورته رسوا کېدم، غونج ناست وم او د زړه درزا مې همداسې زیاتېده...

ډرېور موټر کرار او ښي اړخ ته تاو کړ: دا خو دې غټ کار کړی.

بل په خندا شو: اوس به نو د رئیس خاص کس شې.

باري ځواب ورکړ: تر هغې چې بل ملګری یې نه وي وژل شوی، خطر نه ختمېږي!

او دې خبرې پسې یې ما ته په اوږه لاس راکېښود: دا سورلي مو چرته روانه کړې؟

- د والي صیب په خلاف مظاهرې ته روان دی!

- ښه نو له دنیا نه د وروستي خوند اخېستو اجازه خو ورکړئ ظالمانو، وبال دی!

او زما له سره یې کڅوړه لېرې کړه، له وېرې مې ټوپ وواهه، خو هغه زه و نه پېژندم، یانې قاسم د مرګ په وخت کې هم دا ځواني کړې وه چې زه یې نه وم ورښودلی، باري د پاخه عمر سړی و، نیمه سپینه، نیمه توره، یو موټې ږیره او تر اوږو اوږدې څڼې یې پرېښې وې.

ترخه موسکا یې وکړه: پیسې دومره خوږې دي چې خلك ورپسې ځان هم وژني او بل هم!

بیا یې له جېب نه هماغه سیګرټ راوویستل چې قاسم څکول، یو یې ترې بل کړ، بیا یې سترګې راکږې کړې: کومه وروستی هیله دې که پاتې وي چې زه یې درته پوره کړم!

د هغه لاس کې نیولي سیګرټ ته په کتو شوم: یو کش راکړئ!

له خندا سره یې سیګرټ په شونډو راکېښود، ښه اوږد کش مې وکړ، همدا وخت موټر برېک وواهه، ډرېور وویل: هدف ته رسېدلي یوو!

زما په وجود بیا رپ ولګېد، د قاسم قاتل چې په خپلو ګوتو یې له سیګرټ نه کش راکوه، سر د خواشینۍ ښودلو په رقم وخوځو: مرګ ته تګ رښتیا هم اسانه نه دی.

بیا یې مخکیني کس ته چې نیم مخ یې پټ و، ورغږ کړ: ده ته مو ستن نه ده وهلې؟

هغه بې له څه ویلو سېټ بورډ خلاص کړ، له یو بوتل نه یې پیچکارۍ ډکه کړه، باري ته یې ونیوله: ته یې ورته وکړه ډاګټر صاحب.

باري بیچکارۍ لږه زور کړه، نرۍ داره له ستنې ووته: دا دې اوس وېره ختموي... بیا په خندا شو: ښاېسته هم نه یې چې کوناتې کې یې درته وکړم!

پیچکارۍ یې په ورون راننویسته، مخکې سېټ کې ناست کس چوکۍ کې راتاو شو، زما د کورتۍ څنځیر یې خلاص کړ، په واسکټ د سینې له پاسه ځای کې بټنې یې څو ځل زور کړې، چونګاری شو.

- وخت مې ورکړ، که ته بټن و هم نه وهې، خپله الوځې!

همدا وخت د هوایي میدان په عمومي سړک د لاریون کوونکو ډله تېره شوه، بیرغونه ورسره وو او لاسونه یې ښورول... زه همدې ته انتظار وم چې لاسونه مې خلاص او د لاریون پر ځای همدلته ځان ته چاودنه ورکړم، خو ناڅاپه باري تمانچه راوویسته، د ډرېور له ویشتلو سره یې هغه کس ته پر سر کېښوده چې له مخکې سېټ نه رااوړېد شوی و او زما واسکټ بم ته یې وخت ورکړ!

حیران شوم چې دا څه کیسه ده؟ دا کس څوک دی؟ ولې یې خپل یو ملګری وویشت او بل ته یې تمانچه ونیوله؟

- خپل ځای کې کېنه او تېروتنه و نه کړې!

- باري څه جک وهې؟ د ټوکو وخت نه دی، بم ته مې پنځه دقیقې وخت ورکړی، یوه تېره شوه!

باري تمانچه په سر ورزور کړه: وخت يې بند کړه.

هغه وخندل: دا وخت نور نه بندېږي.

باري ژر په بټني چاقو زما د لاسونو پلاستيکي ولچک غوڅ کړ: کورتۍ او واسکټ وباسه!

کورتۍ مې وغورځوله او واسکټ مې هم په وارخطايۍ وويست، نه پوهېدم چې څه به کېږي؟ او زه څه وکړم؟

باري چې ځان د قاسم قاتل ښوده او زه يې ژغورلی وم، راغبرګ کړ: ښکته شه!

زه پر ځای ناستم وم، په هېڅ مې سر نه خلاصېده، پيچکارۍ مې حال بدل کړی و.

- درته وايم ښکته شه.... ډيکه يې کړم!

مخکيني کس بيا سر راتاو کړ: هغه مرګ منلی، زه او ته بايد ښکته شوو!

باري پرې وربرګ شو چې خوله بنده کړي.

خدای د نوي ژوند موقع راکړې وه، ښکته او په منډه شوم، عمومي سړک ته رسېدو سره په لاريونوالو ورننوتم او له هغه ځايه مې پرونر ته ورمخ کړ، ويل مې هغه کس به هم راښکته شي چې زه يې ژغورلی وم، خو يو غوږ کڼونکي درز سره ځمکه ولړزېده، څه خلک وغورځېدل، څه کېناستل او څه وارخطا په منډو شول، زه هم چې غوږونو کې مې د بم د غبږ انګازې وې، يو نامعلومې خوا ته په منډه شوم...

وېرې او حيرانۍ وهلی وم، نه پوهېږم تر څومره ځايه به مې منډه وهلې وه؟ ستونی مې وچ او تندې وهلی وم. د داسې تصادف پېښېدل راته هېڅ د منلو نه و، خامخا خوب و، يا د محبس کوټه کې ويده وم، دا خوب مې ليده او يا هم د ځانمرګو په ځمکتله کې پروت يم او خوب ګورم چې زه د مرګ په دروازه له راتېرېدو وروسته هم ژوندی پاتې شوی يم!

د سړک غاړې یوې غرفې ته ودرېدم، هلته د اوبو له ایښې ترموز نه مې دوه ګیلاسه یخې اوبه وڅښلې، بیا مې یو سیګرټ ترې بل کړ: قرض دې خامخا خلاصوم!

خام هلکی موسکی شو: داسې ډېرو ویلي.

پښو کې مې د تګ زور نه و، ورسره کېناستم: که تلیفون درسره وي، یو چا ته زنګ وهم.

تلیفون یې راکړ: لکه چې مظاهرې ته راغلی وې!

ما بې له ځواب ورکولو د قاسم شمېره ډایل کړه، خو شمېره یې بنده ښوده! نو د هغه کس خبره رښتیا وه چې قاسم یې وژلی؟ خو باور مې ځکه نه شو کولای چې د قاسم قاتل زه ولې وژغورلم؟ او ځان یې د مرګ خولې ته ورکړ؟ باري څوک و؟ څنګه راپیدا شو؟ ولې یې له ما سره مرسته وکړه؟ ولې یې د قاسم د وژلو خبره وکړه؟.... زه اوس یوازې همدې ناځوابه پوښتنو ځورولم، له ښه ډېر مزل وروسته د قاسم کور ته ورسېدم، د دروازې مخ ته د نور کله خلاف ډېر بوټان پراته وو، ټک ټک مې کړه. له لږ انتظار وروسته یو د پاخه عمر ږیر کلی سړی راووت: له چا سره مو کار و؟

حیران شوم چې دا څوک دی؟

- زه د قاسم ملګری یم!

- نه یې پېژنم!

دروازه یې رابندوله، پښه مې ورته کېښوده: دا د هماغه کور و!

رابرګ شو: اوس زما کور دی، د حاجي لالمیر نه مې څلور ورځې مخکې اخیستی!

عجیبه وه، ایا حاجي لالمیر د قاسم خپل نوم و؟ ولې یې دا ځای خرڅ کړی؟ ولې یې شمېره بنده ده؟ رښتیا هم وژل شوی؟ که څه بله کیسه ده؟... په هېڅ نه پوهېدم...

هاغه هوټل ته ورغلم چې یوه غرمنی مې په کې له قاسم سره کړې وه، په چوکۍ کېناستم، ځان ته مې د چایو پیاله ډکه او هاغه شاګرد پسې مې سترګې وګرځولې چې قاسم د کامران په نوم ورپېژندلی وم، د تېرو څو اونیو یو بل پسې پېښې، سختی، تصادفونه، د قاسم، بلال او باري مرستې مې سترګو ته ولاړې وې...

دا وخت هماغه شاګرد له پخلنځي راووت، چې زه یې ولیدم، موسکی او راروان شو: ستړی مه شې، سهار مې دې له قاسم نه پوښتنه وکړه!

- خیر یوسې، نن سهار؟

- هو، ستاسې لپاره یې یو لیک هم راکړی!

او د کار د جامو له جېب نه یې لیک په مېز راکېښود، بیا روان شو: زه به درته د ډوډۍ غم وخورم.

ژر د لیک په لوستو شوم....

(کېدای شي داسې فکر وکړې چې ما درسره لوبه کړې، خو دا لوبه بل رقم نه ګټل کېده!

زه د ښار د څلور سوه بستریز روغتون د هډوکو د برخې متخصص یم، پنځه کاله مخکې یو ځانمرګي برید کې زما درې کلنه لور او مېرمن شهیدان شول او ما یې د غچ اخیستو قسم وکړ، هڅې مې وکړې، یو خوا بل خوا منډې، پوښتنې، د امنیت کارمندانو سره ملګرتیاوې، خو هغوی رانه فقط پیسې خوړې او له درې کاله هڅو وروسته مې داسې وګڼله چې زما هڅې ځای نه نیسي او نور باید ځان ستړی نه کړم!

ډېر وخت وروسته یوه شپه چې روغتون کې نوکریوال وم، یو ډېر کلک ملګري زنګ راوواهه او بې له دې چې راته ووایي څه خبره ده؟ کور ته یې وغوښتم، له ځان سره مې د احتیاط لپاره د لومړنیو مرستو بکسه واخېسته او ورغلم... هلته کټ کې یو نا اشنا کس چې په دستمال یې سر تړل شوی و، بې هوشه او په سرو وینو لړلی پروت و، وارخطا شوم، داسې مې وګڼله چې ملګري مې څوک وژلی!

خو هغه پوی کړم چې په موټر یې وهلی، روغتون ته یې له دې وېرې نه و وړی چې و به نیول شي او زخمي یې هم مرګ ته نه شو پرېښودی، ځکه یې کور ته راوړی و. ما هغه ملامتوه، خو قسم یې وکړ چې تېروتنه زما نه وه!

زخمي ته مې سیروم ولګوه، له سره یې ډېره وینه تللې وه، د پاتې کېدو نه و، خو بیا مې هم باید خپله انساني وسه کړې وی، د زخم په ګنډلو یې شوم، ملګري مې یوه کڅوړه راته وښوده چې د زخمي ده او پیسې په کې دي!

له پیسو سره یو لیک هم و، هغه مې ژر ولوست، داسې مې وګڼله چې زخمي خپل ورور ته لیکلی، هلته لیکل شوي و چې ما خپل ژوند خرڅ کړ او په دې پیسو دې ته خپل ژوند جوړ کړه...

هېڅ پوی نه شوم چې څه کیسه ده؟ کله چې زخمي سترګې وغوړولې نو ما ترې همدا پوښتنه وکړه چې دا پیسې چا درکړي؟ پر چا دې ژوند خرڅ کړی؟ هغه په سختۍ پوی کړم چې پیسې زما نه دي او د یو ځانمرګي ورور ته یې رسوم، بیا یې له ما هیله وکړه، که مړ شوم نو ته یې ورته ورسوه، ادرس یې هم راکړ، ما ترې پوښتنه وکړه چې دا کس کله او چرته ځانمرګی کوي؟

هغه چې پوهېده ژوندی نه پاتې کېږي، له مرګ نه مخکې یې وروستۍ ښېګڼه دا وکړه چې ما ته یې د ځانمرګي وخت او ځای وښودل، بکسه مې راواخېسته

او راکړي ادرس ته مې روانه کړه چې د ځانمرګي ورور ته یې وسپارم او ورته ووایم چې دغسې کیسه وه.

د کور دروازه بنده وه او له ټک، ټک وروسته هم څوک را و نه وتل، د شا پر دېوال کور ته واوښتم، خالي و، کوټې ته ننوتم، هلته هم څوک نه وو، پروت کټ کې مې بکسه کېښوده، لږه شېبه کېناستم، دمه مې وکړه، بیا مې د پیسو پر یو بنډل د ځانمرګي ځای او وخت ولیکه، ما ویل که د ځانمرګي ورور هوښیار وي، پوی به شي.... نور راووتم، د قومندانی شمېرې ته مې زنګ وواهه چې داسې یوه پېښه کېدونکې ده او مخه یې ونیسئ، خو چې خپله قومندان د یو کار شریک وي، مخه به یې چا نیولی وی؟

دولس بجې د قومندانی مخ ته له چاودنې لږ وروسته ورسېدم او همدله مې ته ولیدې چې یو ځانمرګی دې په سر وواهه... بیا چې څه وشول؟ تا ته معلوم دي.... زه او ته سره ستاسې کور کې مخ شوو، نه ما ته په کومه ویډیو کې لیدلی وې او نه زه د امنیت کارمند وم، فقط د امنیت جعلي کارت راسره و، خو د دې لپاره چې دا لوبه مخکې تللی وی، مجبور وم، ځان درته داسې وښایم چې د امنیت کارمند یم، ستا له لیدو وروسته مې داسې وګڼله چې خدای ج ما ته د مېرمن او لور د غچ اخېستو موقع راکړې او تاسې هم د ورور د غچ اخېستو جذبه کې وئ، دښمن مو یو و، د پړې سر مو هم پیدا کړی و، نو ځکه دا لوبه شروع شوه!

کله چې محبس کې ستا د سرتاج لپاره پیسې په کار شوې، نو زما لاس تش و، مجبور شوم کور خرڅ کړم، پنځوس زره افغانی یوازې هغه عسکر غوښتې چې د سرتاج کوټې ته پیسې ورسوي او ستا دوه ورځو کې خلاصېدل هم په کمو پیسو نه کېدل، کله چې د بلال پر ځای مرګ ته تلې نو زما درسره خوښه

بله لار نه شته، که څه هم نه وه، خو ستا مخه مې ځکه و نه نیوله چې پوهېدم
تا راته وویل چې تعقیب دې نه کړم، خو ما څارلې!
بلال مې هملته ولید او زه بښنه غواړم چې ما هم د هغه له مجبوریت نه د یو لوی خیر لپاره ګټه واخېسته، هم مې پیسې ورکړې، هم مې ورته د نیولو ګواښ وکړ، هم مې ستا د مرستې او ښېګڼې جبران ته وهڅولو، هم مې ورته وطن ته د قربانۍ احساسات راوپارول او ستا د تګ پر سبا په هماغه دروازه درغی، چې ته پرې تللی وې!
دا چې هلته یې څنګه ځان تا ته رسولی؟ زه نه پوهېږم!
بېګا یوه نیمه بجه یوناني حکیم خبر راکړ چې لومړی ځانمرګی سبا نهه بجې په دیارلسم سړک د هوايي میدان سړک ته رسوي. حکیم ته مې ټولې لارې ترلې وې، خو ښه شوه د موټر د ورکولو په بدل یې دا راز راورساوه. نو وخت نه شته، زه اوس یو ارایشګر ته روانېږم چې ما د هغه کس په رقم جوړ کړي چې زما ملګري په موټر وهلی و او پر ځای یې ما ستا د ورور لیک او پیسې کور ته دروړې!
د غړ ویستو تمثیل یې له ثبت شوې ویډیو نه زده کوم، رښتیا نوم یې باري و، اوس دا دعا کوم چې خدای ج دې وکړي سبانی ځانمرګی ته اوسې، زه دې وژغورم او دا لیک درته ورسي... چې هېر مې نه شي ستا د پیسو له بکسې مې یوه افغانۍ هم نه ده لګولې او هملته مې درته ایښې چرته دې چې په اول ځل لیدلې وه، په هغې دې خامخا د خپل ورور وصیت پوره کړه او له پاتې ژوند نه دې خوند واخله!...).
ښه شېبه د لیک خبرو فکر کې ورک کړی وم، ټولې پوښتنې مې ځواب شوې وې، قاسم مې سترګو ته ولاړ و، اوښکې مې روانې وې، دا وخت د هوټل

شاګرد ډوډۍ راوړه، په یوه ساه لګیا و، خدای دې رحم وکړي، خدای دې رحم وکړي!

ما ویل څه شوي؟

هغه د وریجو غوری په مېز راکېښود: تلویزون ته نه ګورې؟ بیا چاودنه شوې!

ما تلویزون ته مخ کړ، په ښیښه یې یو کور ښوده چې نیم ړنګ شوی او لوګي ترې پورته کېدل، داسې راښکاره شوه چې دا ځای ما مخکې هم لیدلی، له لږ فکر وروسته رایاد شو، د ځانمرګو له څمکتلې مې چې د شپې د سر پټې زینې له چاود نه کومه مانۍ لیدلې وه، هماغه وه، ورسره یې لیکلي و چې د مشرانو جرګې د مرستیال په کور ځانمرګی برید شوی، د ورور تر څنګ یې د کورنۍ اوه غړي او یوولس ساتونکي وژل شوي. ولسمشر، د وزیرانو شورا، د پارلمان غړو او ډېرو نورو لویو او وړو چارواکو دا پېښه غندلې او د هغوی په مرګ یې خواشیني ښودلې وه!

خو د قاسم او بلال په مرګ بې له ما د خواشینۍ څوک نه وو...!




Scanned with CamScanner